# اسلام پوهنه

لیکوال:

مولانا وحید الدین خان

Ketabton.com

ژباړه:

رحمت شاه ((فراز))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

((هغو ته چې تر بل هر شي زيات له هغه څه سره مينه لري
چې انسانيت ته ګټور وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

سریزه ........ 5
خدای ........ 6
پرښته ........ 7
پیغمبر ........ 8
قران ........ 9
اسلام ........ 10
ایمان ........ 11
امتحان ........ 12
نیت ........ 13
اخرت ........ 14
روحانیت ........ 15
تقوا ........ 16
شکر ........ 17
ذکر ........ 18
لمونځ ........ 19
روژه ........ 20
زکات ........ 21
حج ........ 22
اخلاق ........ 23
صبر ........ 24
رښتیا ویل ........ 25
ژمنه ........ 26
پاکوالی ........ 27

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغم ........ 28
مخ اړول ........ 29
د اختلاف پر مهال ........ 30
ګاونډی ........ 31
حقوق العباد ........ 32
د انسان تصور ........ 33
د خلکو خدمت ........ 34
مساوات ........ 35
انساني ورورګلوي ........ 36
تعصب مه کوئ ........ 37
سوله ییز انسان ........ 38
د خدای لمانځنې ژوند ........ 39
سهار او ماښام ........ 40
پند اخیستنه ........ 41
کورنی ژوند ........ 42
ځان درناوی ........ 43
ساده توب ........ 44
الهي تګلاره ........ 45
شتمني ........ 46
له لاسه ورکول او لاسته راوړل ........ 47
خلاصون ........ 48
جهاد ........ 49
دعا ........ 50
دعاوې ........ 51

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

اسلام د نړۍ تر ټولو لومړنی دین دی چې پیل پر حضرت آدم علیه السلام شوی. د دې دین وروستی پیغمبر حضرت مُحَمَّد صلی الله علیه وسلم او وروستی کتاب یې قرآن کریم دی. د یوه مسلمان په توګه په خپل دین پوهېدا د یوه نېکمرغه ژوند لپاره تر ټولو اړین او مهم فکتور دی. په ((اسلامپوهنه)) کې په اسلام پوهنه او د نېکمرغه ژوند رازونه سپړل شوي.

د ژباړې د لا بډاینې په پار ستاسو د نېکو وړاندیزونو او مثبتو نیوکو په هیله

ستاسو خپل

رحمت شاه ((فراز))

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدای

خدای يو دی. خدای يو ازلي او ابدي حقيقت دی. هغه هر څه دی. هر څه له خدای څخه دي، خدای له هېڅ شي څخه هم نه دی. خدای د هر شي هستوونکی دی او د ټول عالم سمبالوونکی هماغه ذات دی.

له خدای پرته بل معبود نشته. هغه ژوندی دی، د ټولو چارو سمبالوونکی دی. نه پرې پرکالي راځي او نه خوب ورځي. هماغه لره دي څه چې په آسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي. څوک دی چې د هغه له اجازې پرته د چا سفارش وکړي. په هغه څه پوهېږي چې د انسانانو په وړاندې دي او له هغه څه خبر دی چې تر دوی وړاندې تېر شوي. دوی د هغه ذات له علم څخه په هېڅ شي هم نه شي را چاپېر کېدی، خو دا چې هغه يې وغواړي. د هماغه پاچاهي په آسمانو او ځمکه باندې واکمنه ده. د هغو په سمبالولو ستومانه کېږي نه، او هماغه د لوړې مرتبې څښتن دی. (البقره)

په قرآن کريم کې راغلي:

> ((ووايه: هغه (ايکي) يو الله دی. الله بې پروا دی. نه يې زېږولي او نه زېږېدلی دی. او نه يې هېڅوك سيال شته.))

د قرآن کريم دا سورت ((الاخلاص)) د الهي يو والي ((توحيد)) سورت دی، يوازې دا ښودنه راته نه کوي چې خدای يو دی، بلکې په دې کې دا هم څرګند شوي چې د خدای يو والی څه معنا لري. په دې سورت کې د خدای تصور له هغو ټولو خرافاتو څخه بېل ښودل شوی چې په هر دور کې انسان پکې اخته وو. خدايان ډېر نه دي، يوازې يو خدای دی، ټول هماغه ته اړمن دي، دی هېچا ته هم محتاج نه دی، پخپله پر هر شي واکمن او قادر دی. دی له دې څخه لوړ دی چې د انسانانو په څېر له يو چا وزېږي او يا اولاد ولري. هغه داسې يوازينی ذات دی چې له هېڅ اړخه يې هم نه مثل (ورته) شته او نه هم سيال لري. هر ډول يو والی او يوازيتوب د يوه هستوونکي ذات لپاره ده او هغه ذات يوازې او يوازې د خدای جل جلا له دی. د يوه خدای تصور د اسلام مرکزي تصور دی. همدا عقيده د اسلام اصلي ريښه ده او همدا د اسلام د ټولو لارښوونو يوازينۍ سرچينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرښته

د خدای په ډېرو مخلوقاتو کې یو مخلوق هغه دی چې پرښته ورته ویل کېږي. پرښتو ته خدای ځانګړي صلاحیتونه او خاص اختیارات ورکړي. هغوی په کایناتو کې لوی لوی تصرفات کولای شي. خو د هغوی ټولې کړنې د الله تعالی د بشپړ اطاعت تر سیوري لاندې وي. هغوی یوه ذره هم د الله له لارې څخه انحراف او کوږوالی نه کوي.

په کایناتو کې هره شېبه بې شمېره پېښې رامنځته کېږي. د بېلګې په ډول، د ستورو چورلېدل، د لمر او سپوږمۍ ځلېدل، د ځمکې څرخېدل، په همدې ډول د باران، موسم او داسې نورو ډېرو تغییراتو او بدلونونو رامنځته کېدل. د انسان او حیوان د نسل پر ځمکه پرلپسې دوام کول، دغسې له شمېر وتلې پېښې چې هر وخت په نړۍ کې را ښکاره کېږي، د هغو ټولو سمبالښت پرښتې ترسره کوي. هغوی د خدای په کایناتو کې د الله تعالی ډېر زیات وفادار او امر منونکي کار کوونکي دي.

انسان پرښتې نه ویني. خو پرښتې انسانان ویني. دوی د خدای له خوا د انسان ساتنه کوي. همدا پرښتې انسان ته مرګ هم راوړي او روح یې له دې ځایه له ځان سره وړي.

پرښتې د دې دنیا چارې هم سمبالوي او په آخرت کې به د جنت او دوزخ چارې هم سمبالوي. د پرښتو شمېر بې شمېره دی.

د پرښتو نظام د یوې لویې کارخونې په ډول ګڼل کېدی شي. په یوې لویې کارخونې کې ستر ستر او پېچلي ماشینونه وي. له همدې ماشینونو څخه هغه تولیدات رامنځته کېږي چې دا کارخونه ورته ودانه شوې وي. خو دا ماشینونه پخپله کار نه کوي. د هغوی د کار کولو لپاره لوی شمېر بشري ځواک بوخت وي. نو په هره کارخونه کې په لوی شمېر کار کوونکي په کار لګیا وي تر څو هغه فابریکه د خپلې ګټې لپاره په کار واچوي. په همدې ډول د نړۍ په ستره فابریکه کې هم بې شمېره پرښتې د دې نړیوالې فابریکې د په کار اچولو لپاره ګمارل شوې دي. په دواړو فابریکو کې توپیر یوازې دا دی چې په عادي کارخونو کې انساني کار کوونکي لیدل کېږي، حال دا چې په نړیواله فابریکه کې کار کوونکې پرښتې په ظاهري سترګو نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیغمبر

پیغمبر هغه انسان دی چې خدای د خپل استازیتوب لپاره غوره کړی وي. کله چې خدای یو انسان د خپل پیغمبر په توګه ټاکي، نو یوه پرښته ورته را ولېږي او د هغه د غوره کېدو خبرتیا ورکوي. په دې ډول هغه انسان باوري شي چې زه د خدای پیغمبر یم. له دې وروسته د پرښتې له لارې خدای خپلې لارښوونې پرې نازلوي، تر څو دا لارښوونې ټولو انسانانو ته ورسوي. ګواکې پیغمبر د خدای او انسان تر منځ شتون لري، او له خدای څخه یې تر نورو انسانانو پورې رسوي.

خدای انسان ته عقل ورکړی او د همدې په وسیله پر ظاهري خبرو پوهېدای شي. خو ډېرې داسې خبرې شته چې پر هغو باندې د پوهېدو لپاره یوازې ظاهري پوهه بسنه نه کوي؛ پخپله د اوسنۍ نړۍ په هکله ډېر ژور حقیقتونه شته چې د انسان په عقلي چوکاټ کې نه ځایېږي. او تر کومه ځایه چې د خدای او آخرت مسئله ده، نو دا دواړه په بشپړ ډول له یوې داسې نړۍ سره اړیکه لري چې په سترګو نه ښکاري او په همدې اساس له عقلي ادراک څخه هم وتلي دي.

د پیغمبر دنده دا وي چې د انسان دا کمی ور پوره کوي او د شیانو حقیقت ور ښیي. له راتلونکي ژوند څخه یې خبروي. دغه راز انسان د دې جوګه ګرځوي چې د پوهې او شعور په بشپړه رڼا کې د خپل ژوند تګلوری جوړ کړي او له هماغه سره سم خپل ژوند ودان کړي.

له کله راهیسې چې انسان په دې نړۍ کې رامنځته شوی، له هماغه وخته د پیغمبرانو لړۍ پیل شوې. په هر مهال کې یې انسان ته د خدای خبرې را رسولې، خو د لرغونو وختونو د پیغمبرانو مستند معلومات نه دي پاتې شوي. وروستنیو حالاتو د هغوی شخصیت هم غیرتاریخي ښودلی او د هغوی کتابونه یې هم په تاریخي ډول غیرمستند ښودلي.

په پای کې الله تعالی محمّد صلی الله علیه وسلم د خپل وروستي پیغمبر په توګه غوره کړ. پیغمبر علیه السلام هغه مهال نړۍ ته ستړګې پرانیستې چې په دنیا کې تاریخي دور پیل شوی وو. له همدې سره په هممهالي ډول هغه دور هم پیل شو چې د چاپ ((خپراوي)) دور ورته کېږي. په دې ډول نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته هغه ګټور وسایل په لاس ورغلل چې نوموړی یې یو منل شوی شخصیت وګرځاوه. او په همدې ډول د ده مبارک کتاب هم خوندي پاتې شو او د چاپ په دور کې ور ګډ شو. له دې وروسته دا شونتیا له منځه ولاړه چې د ده مبارک په کتاب کې دې کوم تغییر یا لاسوهنه رامنځته شي. محمّد صلی الله علیه وسلم د الله وروستی پیغمبر دی او د قیامت تر ورځې په دنیا کې د خدای یوازینی استازی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قران

قرآن د خدای کتاب دی. هغه لاربښوونې چې په قرآن کریم کې راغلې، د اصل له مخې هماغه دي چې په مخکینیو اسماني کتابونو کې راغلې. خو مخکیني اسماني کتابونه په خپله لومړنۍ بڼه خوندي نه دي پاتې شوي. د وروستیو بدلونونو له کبله دا کتابونه نامعتبره وګرځېدل. حال دا چې قرآن په خپله اصلي بڼه په بشپړ ډول خوندي پاتې دی. له همدې کبله قرآن په بشپړ ډول یو باوري او د اعتبار وړ کتاب دی.

قرآن کریم ۱۱۴ سورتونه لري. په دې کې چې کومې خبرې راغلې، د هغو لنډیز دا دی چې انسان خدای یو وګڼي او د هغه لوړ ذات په وړاندې خپل ځان ځواب ویونکی وبولي. په دې باور ولري چې د نړۍ د وروستي پیغمبر مُحَمَّد صلی الله علیه وسلم په وسیله چې الله تعالی کومې خبرې تر موږ را رسولې، هغه ټولې سمې او د انسان ابدي ژغورتیا پر هغو باندې په ایمان لرلو باندې بنا ده.

د قرآن حیثیت یوازې دا نه دی چې له ګڼو اسماني کتابونو څخه یو کتاب دی. بلکې رښتینی حیثیت یې دا دی چې د ډېرو اسماني کتابونو په منځ کې یوازینی د باور وړ کتاب دی. په دې چې نور ټول کتابونه د تغییراتو او لاسوهنو په پایله کې له تاریخي پلوه بې باوره شوي دي. پر مخکینیو کتابونو ایمان لرونکی یو تن چې کله په قرآن ایمان راوړي، نو نوموړی خپله عقیده نه ردوي. بلکې خپله عقیده ((ګروهه)) په لا زیاته مستنده بڼه له نوې سره بیامومي.

قرآن د خدای په ټولو را لېږلو کتابونو کې تر ټولو سپېڅلی کتاب دی. دا د هر انسان خپل کتاب دی، ځکه چې دا کتاب هغه ذات را لېږلی چې د هر انسان خپل خدای دی، نه د کوم بل چا.

قرآن یو نوی اسماني کتاب نه دی، بلکې د مخکینیو اسماني کتابونو مستنده او باوري ګڼه ده؛ داسې چې قرآن د ټولو انسانانو او ټولو قومونو کتاب دی او د هر چا لپاره د خدای د پېرزوینې او لورېینې ښکارندوی دی او د هر چا لپاره د خدای بشپړ پیغام دی؛ قرآن د ټولې نړۍ لپاره هغسې د هدایت رڼا ده، لکه لمر چې د ټولې نړۍ لپاره رڼا او د تودوخې وسیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام

د اسلام معنا اطاعت ده. د اسلام نوم له دې امله ورکول شوی چې بنسټ یې د خدای پر اطاعت ایښودل شوی. د اسلام څښتن هغه څوک دی چې خپل فکر الله ته تابع کړي او هغه څوک دی چې خپلې چارې د خدای د امر تر سیوري لاندې ترسره کړي.

اسلام د ټولې نړۍ دین دی. ځکه چې ټوله نړۍ او هره برخه یې د خدای د ټاکلي قانون له مخې پرمخ روانه ده.

د نړۍ همدا چلند له انسان څخه هم غوښتل شوی. انسان ته هم بویه چې په همدې ډول د خدای امر منونکی شي او خپل ژوند په هماغه ډول تېر کړي، لکه نوره نړۍ چې په بشپړه توګه د الله تعالی امر منونکې ده. فرق یې یوازې دا دی چې نړۍ د مجبوریت له مخې د خدای امر ته غاړه ایښې او له انسان څخه غوښتل شوي چې په خپلواکه توګه خپل ځان د الله اوامرو ته ژمن کړي.

هر ګوره چې یو انسان اسلام غوره کړي، نو له هر څه ړومبی یې فکر د اسلام تر چتر لاندې راځي. له هغه وروسته د ده خواهشات، د ده جذبات، د ده لېوالتیاوې، د ده اړیکې، مینه او کرکه، دا ټول د خدای د اطاعت په رنګ کې ورنګېږي.

وریسې د انسان ورځنی ژوند د خدای تر اوامرو لاندې راشي. له خلکو سره یې چلند او راکړه ورکړه د اسلام په غوښتنو کې ونغښتل شي. او له دننه او بهر څخه په ټوله کې د الله اوامرو ته غاړه ایښودونکی انسان وګرځي.

انسان د خدای بنده دی. د انسان لپاره سمه لاره یوازې همدا ده چې په دنیا کې د خدای د یوه بنده په توګه ژوند وکړي. د همدې بندګۍ د چلند دوهم نوم اسلام دی. اسلامي ژوند د خدای د بندګۍ او د هغه د اطاعت ژوند دی. بې دینه ژوند دا دی چې انسان سرکښه او سرغړوونکی شي او ځان د خدای له اوامرو څخه ازاد کړي. د دې په مقابل کې اسلام دا دی چې انسان غاړه ایښودونکی وي او خپل ځان له الله سره مینې او د هغه اوامرو ته وسپاري. همدا وروستۍ ډله به د الله له لورونو او پېرزوینو څخه برخمن خلک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایمان

د ایمان حقیقت پېژندنه ((معرفت)) ده، یانې د خدای موندل. کله چې انسان په شعوري ډول د خدای وجود ومومي او تر الهي حقیقیتونو پورې ورسېږي، همدې ته ایمان ویل کېږي.

دا موندنه داسې ساده خبره نه ده. خدای د ټولو شیانو هستوونکی او څښتن دی. هماغه ذات انعام ورکوونکی او سزا ورکوونکی دی. د هغه له منګولو څخه هېڅوک خوندي نه دي. د داسې یوه خدای موندنه د انسان ټول ژوند ته ټکان ورکوي. په فکر کې یې یو اوښتون (انقلاب) رامنځته کوي او د ده د ټولو جذباتو مرکز خدای وګرځېږي.

د دې پایله دا وي چې انسان په بشپړ ډول د خدای بنده وګرځي. د ټولو اړخونو مرکز یې یوازې خدای وي. او اوس یو داسې انسان ترې جوړ شي چې ژوند یې هم د الله لپاره وي او مړینه یې هم د خدای لپاره وي.

د دې ایمان پایله دا وي چې د انسان کړه وړه او اخلاق د خدای په رنګ کې ورنګېږي. هر کله چې دی خبرې کوي، نو داسې انګېري چې ګنې خدای یې خبرې اوري. کله چې روان وي، نو داسې ځي چې تګ یې د خدای له خوښې سره په ټکر کې نه وي. له خلکو سره په اړیکو کې دا وېره ورسره وي چې که مې ناسمه معامله وکړه نو خدای به پرې سزا را کوي.

د دې ایمان اغېز دا وي چې د انسان د ټول ژوند لوری راتلونکي ژوند ته واوړي. په هر کار کې له دنیا څخه زیات د آخرت اړخ یې سنجوي. د لنډمهالې ګټې پر ځای د آخرت ګټه د خپلې پاملرنې مرکز ګرځوي. کله چې په یوه معامله کې دوه اړخونه وي، یو د دنیا او بل د آخرت، نو نوموړی تل د دنیا اړخ له پامه غورځوي او آخرت ته غاړه ورکوي.

دا ایمان د ده لپاره پر خدای باندې د ټولیز باور سرچینه وګرځي. په هر حال کې پر خدای باور کوي. ایمان د خپل حقیقت له مخې د ستر څښتن تعالی د پېژندلو نوم دی. خو کله چې دا پېژندنه د یو چا زړه او ذهن ته ور ښکته شي نو ټول شخصیت یې یوه نوې بڼه غوره کړي او په ټوله معنا یو نوی انسان ترې جوړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امتحان

په دې دنیا کې انسان خپلواک دی. خدای هېڅ ډول بندیزونه هم نه دي ورته ټاکلي. خو دا خپلواکي د امتحان لپاره ده نه د یوه خپلواک ژوند لپاره. د خپلواکۍ معنا دا نه ده چې انسان خپل ژوند د ځارویو په څېر بې قیده تېر کړي او یوه ورځ مړ شي. بلکې موخه یې دا ده چې انسان د خپلې ارادې له مخې سم او روغ ژوند تېر کړي. پخپله له خپلې پرېکړې سره سم ځان د لوړو اخلاقي اصولو پابند وګرځوي.

د انسان پر دې ډول پنځولو موخه دا ده چې په نورو ټولو مخلوقاتو کې د اشرف او لوړ مخلوق درناوی او لوړاوی ورکول شي او د خدای له هغو خاصو بندګانو څخه وشمېرل شي چې له کوم ظاهري بندیز پرته یې له ځان څخه اصولو ته ژمن انسان جوړ کړی وي. هغه، چې له کوم بیروني جبر پرته د خپلې خپلواکې پرېکړې له مخې هغه څه وکړي چې د حقیقت له مخې یې باید کړي وي.

په دې نړۍ کې چې څومره شیان دي، هغو ټولو الله ته غاړه ایښې ده. د فضا ستوري او سیارې په بشپړ ډول د خدای له حکم سره سم څرخېږي. ونې، سیندونه، غرونه او داسې نور ټول شیان له پخوا څخه د خدای له خوا د ټاکل شوي مسیر په اساس رامنځته شوي دي. په همدې ډول عام ځاروي هم هغه څه کوي چې د زوکړېز (پیدایشي) فطرت له مخې ورته ټاکل شوي دي. په نړۍ کې یوازې انسان هغه مخلوق دی چې د اختیار او ازادۍ نعمت ور پېرزو کړی شوی دی.

همدې ازادۍ د انسان پر مخ دوه ډوله دروازې پرانیستي دي. که دی د ازادۍ له ترلاسي وروسته په سرکښۍ، سرغړاوي او بې قیدي کې اخته شي، نو معنا به یې دا وي چې په امتحان کې بریالی نه شو. له دې وروسته به یې د هماغو خلکو پایله په برخه وي چې په یوه ناخېزه ازمایښت کې پاتې راغلي وي.

دوهمه ډله هغه خلک دي چې ورکول شوې خپلواکې په سمه دایره کې وکاروي. که څه هم دوی مجبور نه وي خو بیا هم خپل ځان الهي اصولو ته ژمن کړي. دا خلک د ازادۍ په ازمایښت کې بریالي دي، دوی ته به د خدای له خوا هغه انعامات ورکول کېږي چې بل هېڅ مخلوق ته به نه وي ورکول شوي. دوی به د خدای له نږدې بندګانو څخه وي چې د تل لپاره به په راحت او ارامتیا کې وي، او داسې خوشالۍ به یې په برخه وي چې هېڅکله به هم پای نه مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نیت

په اسلام کې تر ټولو اړین څیز نیت دی. هیڅ عمل هم د خپل ظاهري جوړښت په اساس د خدای په نزد نه منل کېږي. خدای یوازې هماغه عمل مني چې کوونکي یې په صحیح او روغ نیت کړی وي. په بد نیت ترسره شوی عمل، الله تعالی نه مني.

سم نیت دا دی چې هغه کار د الله تعالی لپاره شوی وي. د هغه د ترسره کولو موخه د خدای رضا او خوښي وي. انسان چې هر کار کوي له دې احساس سره یې وکړي چې د دې اجر به له الله تعالی څخه ترلاسه کوم.

د دې پرعکس بد نیت دا دی چې انسان په ښکاره د دین یو عمل ترسره کړي، خو موخه یې د دنیا ګټه ترلاسه کول وي. دی چې کوم کار کوي، نو له دې امله یې کوي چې خلک یې ووینې او ستاینه یې وکړي، د خلکو په منځ کې یې شهرت او نوم زیات شي او یا په خلکو کې د عزت او درناوي مقام ترلاسه کړي.

نیت د انسان له دنني فکر یا داخلي کیفیت سره تړاو لري. عام خلک د انسان پر دنني فکر یا داخلي کیفیت نه شي پوهېدای. خو خدای د هر انسان په دروني حال پوه دی. هغه ذات پوهېږي چې د انسان په ذهن کې څه تېرېږي او په باطن کې څه ډول جذبات لري. د یو چا د عمل په هکله عام خلک تېروتی شي، خو خدای پر هره خبره بشپړ پوهه لري او له هر چا سره به د خپل علم له مخې معامله کوي. او هر چا ته به هماغه بدله ورکوي چې په آر کې یې مستحق دی.

نیت حقیقي او معنوي حیثیت لري. هر هغه شی چې خپل اصلي حقیقت یا اصلي معنویت له لاسه ورکړي، هغه شی بې ګټې کېږي. په همدې ډول کوم عمل چې له بد نیت یا نیمګړي نیت سره وشي، هغه بې ارزښته دی. دا ډول کړنو ته نه انسانان د ارزښت په سترګه ګوري او نه خدای.

یو شی هغه وخت ارزښت لري چې سوچه او کره وي، او کوم بل شی ورسره نه وي یو ځای شوی. په روغ نیت شوی عمل سپېڅلی او سوچه عمل دی، له روغ نیت پرته شوی عمل ناسوچه او ناخالص عمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخرت

انسان یو ابدي (تلپاتې) مخلوق دی. خو الله یې عمر په دوو برخو وېشلی. د عمر ډېره وړه برخه یې په دې دنیا کې ایښې او پاتې ټوله برخه یې له مرګ وروسته راتلونکي ژوند ته خوندي کړې. دا دنیا د عمل ځای دی او د آخرت ژوند د عمل د پایلو ترلاسه کولو ځای.

اوسنی ژوند نیمګړی دی او د آخرت دنیا له هر اړخه بشپړه ده. آخرت یو ناپایه ژوند دی. هلته ټول شیان په خپله معیاري بڼه چمتو شوي دي.

خدای خپل جنت د آخرت په ژوند کې خوندي کړی. جنت له هر ډول نعمتونو څخه ډک دی. په دې دنیا کې هغه خلک چې نېکي او خدای لمانځنه وکړي، د آخرت ژوند ته به په داسې حال کې ور داخل شي چې په وړاندې به یې د جنت دروازې د تل لپاره پرانیستي وي.

خو هغه خلک چې په دې ژوند کې خدای هېر کړي، یا د خدای پر وړاندې د سرکښۍ لاره غوره کړي، هغوی د خدای په نزد سرغړوونکي دي. دا ډول خلک به په آخرت کې له نعمتونو څخه بې برخې وي.

په دې ژوند کې خدای د غیب په حالت کې دی. په آخرت کې به له خپل ټول ځواک سره را ښکاره شي. هغه مهال به ټول انسانان د خدای په وړاندې سرونه ښکته کړي. خو هغه مهال به د دوی ټیټېدل، هېڅ ګټه ورته ونه رسوي. د خدای په وړاندې هغه ټیټېدل مطلوب دي چې د هغه ذات له لیدو دمخه په دنیا کې ترسره شوي وي. په آخرت کې د خدای له لیدو وروسته د هغه په وړاندې سرونه ښکته کول هېڅ ته هم ګټه نه رسوي.

مرګ د ژوند پای نه دی، بلکې د راتلونکي یا د ژوند د دوهم پړاو پیل دی. مرګ هغه منځنی پړاو دی چې انسان د نن ورځې له لنډمهاله ژوند څخه ووځي او په تلپاتې ژوند کې پښه ور کېږدي. د دنیا له لنډمهاله تمځای څخه ووځي او د آخرت تلپاتې استوګنځي ته ورننوځي. د آخرت دا پړاو د هر انسان په ژوند کې ارومرو راتلونکی دی، هېڅوک هم نشته چې د آخرت له کړاو څخه ځان وژغورلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روحانیت

روحانیت څه دی ؟ خدای په ابدي ډول د ګلاب په بوټي کې روحانیت څرګند کړی دی. د ګلاب په بوټي کې خار (ازغي) هم وي او ګلان هم. خدای د دې ازغیو له منځ څخه یو ګل هم را ټوکوي، چې خوشبویي لري، رنګ لري، او په خپله خوشبویي تر لرې لرې پورې خلک معطر کوي.

د روحانیت فطري بېلګه همدا ده. روحانیت د ازغیو په منځ کې د ګل په څېر اوسېدو ته ویل کېږي. روحانیت دا دی چې انسان د ژوند له ازغیو سره لاس او ګرېوان نه شي. په پاروونکو خبرو ونه پارېږي. ځوروونکي تجربات یې منځلاریتوب ټکنی نه کړي. د نورو ناخوښ حالت یې په زړه کې د غوسې او غچ جذبات را ونه پاوري. له خپلو اصولو سره سم ژوند تېر کړي. ذهني کچه یې دومره لوړه وي چې د کاڼي ویشتونکي کاڼی هېڅ ور ونه رسېږي.

روحیانیت ته په قرآن کریم کې ربانیت ویل شوی دی. یانې له رب سره ژوند کول او د رب لپاره ژوند تېرول. هغه خلک چې په انساني شخړو کې اوسېږي، هغوی د خپلو شاوخوا له خبرو څخه اغېزمن کېږي. د داسې خلکو روحانیت هېڅکله وده نه کوي. خو هغه انسان چې خپل ځان دومره لوړ کړي چې د خپل فکر او سوچ له مخې رباني مقام ته ورسېږي، هغه بیا د خلکو له خبرو بې پروا وي. د ربانیت په صورت کې نوموړی دومره ستر ځیزونه بیامومي چې بل هر شی ورته وړوکی ښکاري.

په داسې کس کې هغه ځواک را وپنځېږي چې کله ښکنځل واوري، نو ورته مسکا وکړي. غوسه پاروونکې خبره هېره کړي، او ازغي ته د ګل په څېره کې هرکلی وکړای شي.

روحاني انسان د خپل روحانیت یا ربانیت په څېره کې دومره ستر شي ته لاسرسی ترلاسه کړي چې له هغه وروسته د هېڅ شي هیله هم نه کوي. دا شی یې له زړه څخه د کرکې، ځانغوښتنې او استحصال جذباتو ته د پای ټکی کېږدي. دی دومره څه ترلاسه کړي چې له هغه وروسته د ترلاسه کولو لپاره بل هېڅ شی هم پاتې نه وي. همدا هغه خلک دي چې له ټولکې څخه یې هغه ټولنه رامنځته کېږي چې د لمر غوندې ځلېږي او د بڼ په څېر ښکلا ترې پورته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقوا

د تقوا معنا ځان ساتنه ده.  په دنیا کې احتیاط او په ځان ساتنه ژوند تېرول. محتاط ژوند ته د تقوا ژوند ویل کېږي. او د نه احتیاط او نه پاملرنې ژوند ته بې تقوا ژوند بلل کېږي.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه له یوه صحابي وپوښتل چې تقوا څه ده. هغه ځواب ورکړ چې اې امیر المؤمنینه! آیا کله له داسې لارې تېر شوي یاستئ چې دواړو خواوو ته یې ازغن بوټي وي. صحابي بیا وپوښتل، هغه مهال مو څه وکړو. عمر رض ځواب ورکړ چې خپله لمنه مې را غونډه کړه او د ځان په ساتلو له هغه ځایه تېر شوم. صحابي ورته وویل: همدا تقوا ده.

دا دنیا د امتحان ځای دی. دلته د انسان د ازمایښت لپاره ډول ډول ازغي شیندل شوي دي. یو ځای د منفي حذباتو توپان دی، بل خوا د ناپوهو خلکو له خوا پنځول شوې ستونزې دي؛ یو چېرته د دنیا راښکلتیا انسان د ځان په لور ور کاږي، بل ځای بیا داسې کړوونکي اسباب وي چې د انسان ذهن تیت او پرک کړي او له نېغې لارې یې واړوي.

دا ټول شیان ګڼې د ژوند په لاره کې دواړو غاړو ته د ازغنو بوټو په څېر دي. هره شېبه دا اندېښنه شته چې د انسان لمنه پکې ونښلي. او بیا د مخکې تګ پر ځای په همدې شیانو کې نښتی پاتې شي.

په داسې حالت کې عقلمن هغه دی چې د دنیا لاره داسې ووهي چې خپله لمنه یې ور ټوله کړې وي. له بې ګټې شیانو سره د ښکېل کېدو پر ځای له هغو مخ واړوي او وړاندې ترې تېر شي. په هر حال کې یې په ذهن کې دا وي چې خپل ځان به سمبالوم. دی باید د ځان ساتنې لاره خپله کړي نه د ځان ښکېلونې لار.

انسان پر روغ فطرت پنځول شوی. که یې کوم شی د لارې خنډ ونه ګرځي، نو هر انسان به پر سم لوري خپل سفر وکړي. نو ځکه د اصلي پاملرنې ځای دا دی چې انسان نافطري خنډونه پرې نه ږدي چې د ده د لارې خنډ وګرځي. له دې وروسته به د ځان لپاره د فطرت په ځواک سم لوری وټاکي، تر دې چې له خپل رب سره یو ځای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شکر

شکر دا دی چې انسان د خدای نعمتونه ومني. دا منل اصلاً په زړه کې راټوکېږي. او بیا د کلمو په جامه کې د انسان پر ژبه جاري کېږي.

خدای، انسان په غوره بدن او ذهن سره هست کړی دی. د اړتیا ټول شیان یې ورته له اړتیا زیات ورکړي دي. د ځمکې او آسمان ټول شیان یې د انسان چوپړ ته اېل کړي دي. پر ځمکه باندې د ژوند یا د تمدن د ودانولو لپاره چې کومو شیانو ته اړتیا وه هغه ټول شیان یې په پرېمانه کچه ورکړي دي.

انسان هره شېبه د دې نعمتونو شاهد دی. له همدې کبله پر انسان لازم دي چې هره شېبه د خدای پر نعمتونو شکر وباسي او زړه یې د خدای د نعمتونو له احساس څخه سرشاره وي.

د شکر اصل حقیقت ((اعتراف)) دی. کوم شي ته چې د انسان په تړاو اعتراف ویل کېږي، د خدای په نزد هغه ته د شکر نوم ورکول شوی. د اعتراف کلمه د انسان په مقابل کې ویل کېږي او د شکر کلمه د خدای په مقابل کې.

شکر د ټولو عباداتو لنډیز دی. په آر کې د عبادت ټول اشکال د شکر د احساس عملي انځورونه دي. شکر تر ټولو جامع او تر ټولو زیات کامل عبادت دی. شکر د خدای لمانځونکي ژوند ټولګه او خلاصه ده.

شکر د انسان تر ټول وجود پورې تړلی دی. په لومړي سر کې انسان په خپل زړه او ذهن کې د شکر احساس را تازه کوي او بیا یې په ژبه بیا بیا د هغه احساس څرګندونه کوي. له دې وروسته چې کله د شکر جذبات یې پیاوړي شي، نو انسان خپل مال او خپله دارایي د شکر د اظهار په ډول د خدای په لاره کې مصرفوي. همدا د شکر احساس یې دې ته اړ باسي چې خپل وخت او خپل ځواک د هغه خدای په لاره کې ولګوي چې د وخت او ځواک دا پانګه یې ور په برخه کړې ده. زموږ وجود، په ټوله کې د الله له خوا راکول شوی. موږ په یوه داسې نړۍ کې ژوند کوو چې په ټوله کې د هماغه ذات ورکړه ده. د همدې حقیقت د منلو او څرګندونې بل نوم شکر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ذکر

د اسلام یوه بنسټیزه لاربښوونه ذکر ده. د ذکر معنا یادول دي، یانې د خدای یادونه. د خدای د هېرتیا حالت ته غفلت او د خدای د یادولو حالت ته ذکر ویل کېږي.

ذکر یو فطري حقیقت دی. انسان هره شېبه له هغو شیانو سره مخ کېږي چې نېغ په نېغه یې اړیکه له خدای سره ده. دی لمر او سپوږمۍ، سیندونه او غرونه، باد او اوبه ویني چې ټول الله تعالی پنځولي دي. په همدې ډول هغه مخلوقات چې د انسان مخې ته راځي، ټول د هغو خالق ور یادوي. له ځمکې تر اسمانه چې څومره شیان دي هغه ټول د الله د جمال او کمال نښې دي او په خپل ټول وجود سره د الله تعالی د ذات را پېژندونکي دي.

همدارنګه په کومه دنیا کې انسان اوسېږي او له کومو شیانو سره چې سهار او ماښام مخ کېږي، هره شېبه یې د خدای لور ته پام ور اړوي. له دې شیانو څخه په اغېزمن کېدو، هره شېبه یې په زړه او ذهن کې رباني کیف راټوکېږي. د همدې کیفیاتو ژبنۍ څرګندونې ته ذکر ویل کېږي.

په همدې ډول انسان په خپل ژوند کې بیا بیا له خدای سره د تړاو له احساس سره مخ کېږي. دی په خپل وجود کې غور کوي، نو زړه یې له دې احساس څخه را ډک شي چې خدای په غوره جوړښت (احسن تقویم) پنځولی دی او له ډول ډول غوره وړتیاوو څخه یې په پرېمانه کچه برخمن کړی. دا احساسات د ده پر ژبه په بېل بېل ډول را څرګندېږي. دا هم د ذکر یوه بڼه ده.

دغه راز، انسان په خپل ورځني ژوند کې له ډول ډول لوړو او ژورو سره مخ کېږي. له ډول ډول د هوساینې او کړاو تجربې ور پېښېږي. د دې تجربو په جریان کې بیا بیا د خدای لور ته متوجه کېږي. او بیا بیا په بېلا بېلو کلماتو خدای یادوي.

دغه راز، د ورځنیو عبادتونو په منځ کې ډول ډول کلمات په خپله ژبه لولي. دا کلمات کله له قرآن او یا حدیث څخه اخیستل شوي وي او کله د خدای د الهي اعتراف له کبله ناڅاپه پر ژبه جاري شوي وي. دا ټول د الله ذکر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمونځ

لمونځ د خدای عبادت دی. د ورځې پنځه وخته فرض شوی. د یو ځای ترسره کولو لپاره یې په جوماتونو کې ورته چمتوالی نیول کېږي.

په لمانځه کې له هر څه وړاندې اودس کېږي. مخ، لاس او پښې په اوبو وینځل د لمونځ کوونکي په زړه کې دا احساس را ټوکوي چې تل سپېڅلی ژوند تېر کړي. بیا د الله اکبر (الله لوی دی) په ویلو په لمانځه پیل کوي. په دې ډول دا اقرار کوي چې لویي د یوازیني څښتن تعالی لپاره ده. د انسان لپاره روغ چلند دا دی چې په دنیا کې په ټیټوالي او عاجزۍ ژوند وکړي.

په لمانځه کې انسان د قرآن یو څه برخه ولولي او په خپل ذهن کې د خدای احکام را تاند کړي. بیا په رکوع او سجدې کې په عملي ژبه وایي چې زما لپاره یوازې یو چلند سم دی او هغه دا چې د خدای د امر منونکي بنده په توګه ژوند تېر کړم.

کله چې د لمانځه کړنه پای ته ورسېږي، نو ټول لمونځ کوونکي ښي او کیڼ لوري ته مخونه اړوي او وایي: ((السلام علیکم ورحمة الله – پر تاسې دې سلامتیا او د الله رحمت وي))، دا د دې خبرې څرګندونه ده چې د لمانځه په وسیله له روزل کېدو وروسته ټول لمونځ کوونکي دنیوي چارو ته په داسې ډول ور ننوځي چې په زړونو کې یې د نورو لپاره د رحمت او سوکالۍ له احساس پرته بله جذبه نشته. د ټولنې د یوه سوله ییز وګړي په توګه به ژوند تېروو او له هېچا سره به هم د بدۍ چلند نه کوو.

لمونځ له یو پلوه د خدای عبادت دی. د خدای د خدایي اعتراف دی. لمونځ د هر ډول ستروالي یوازې خدای ته ځانګړي کول او د هغه په وړاندې سر ټیټول دي.

له بل پلوه لمونځ انسان دې ته تیاوري چې د خلکو په منځ کې یو ریښتینی انسان وګرځي. له خلکو سره په معاملاتو کې تواضع او خواخوږي غوره کړي؛ لمونځ له خدای سره هم د انسان معامله سموي او له انسان سره د هغه د خپل ذات معامله هم رغوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روژه

روژه یو کلنی عبادت دی. هر کال د روژې په میاشت کې یوه میاشت نیول کېږي. په روژه کې انسان د خدای له امر سره سم له سهار څخه د لمر تر لوېدو پورې له خوراک او څښاک څخه ډډه کوي. او خپل ځان زیات تر زیات په عبادت کې بوختوي. د روژې دا کړنه له دې امله ترسره کېږي چې د انسان مادیت را کم شي او روحانیت یې وده وکړي. او په دنیا کې د روحاني ژوند تېرولو جوګه شي.

روژه په انسان کې د شکر جذبه را پاروي. له خوراک او اوبو څخه لریوالی یې د دې نعمتونو پر ارزښت پوهوي. بیا چې کله د لوږې او تندې له زغملو وروسته ماښام ته خوراک و څښاک کوي، نو دا احساس ورکوي چې خوراک او څښاک څومره ګرانبیه څیزونه دي چې خدای ور په برخه کړي دي. دا تجربه د ده د شکر احساس لا پسې زیات کړي.

روژه په انسان کې اخلاقي نظم او دسپلین رامنځته کوي. په ځینو شیانو باندې د بندیز لګولو موخه دا وي چې انسان ته د دې خبرې روزنه ورکړای شي چې بویه په دنیا کې تړلی ژوند تېر کړي، نه بې بندو باره ژوند.

روژه ګڼې یو ډول تم کوونکی ځواک دی. پر انسان باندې د یوه میاشتني بندیز لګولو له لارې روژه انسان ته دا پیغام ورکوي چې په څه ډول ټول کال او ټول ژوند په همداسې چوکاټ کې تېر کړي. او د خدای له ټاکلو پولو څخه د وتلو هڅه ونه کړي.

د روژې په نیولو انسان دا کار کوي چې خپل ځان زیات تر زیات په ذکر، عبادت او د قرآن په لوستلو بوختوي. دا ګواکې د الهي اعمالو د اغېز د زیاتوالي یو میتود دی. په دغه ډول انسان د ذکر، عبادت او د قرآن لوستنې اغېزو ته له ډېر زیاتوالي سره غاړه ږدي.

روژه یو روزنیز کورس دی. او موخه یې دا ده چې د یوې میاشتینۍ ځانګړې روزنې له لارې انسان د دې جوګه کړي چې ټول کال د ((خدای لمانځونکي)) او ((انسانپاله)) انسان په توګه ژوند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زکات

له زکات څخه مراد هغه ټاکلی مبلغ دی چې یو شتمن وګړی یې له خپل مال څخه د کال په پای کې وباسي. په دې ډول نوموړی خپل مال سپېڅلی کوي. یوه وړه برخه د خدای په لاره کې مصرف کړي او پاتې برخه د ځان لپاره په روا ډول د کارونې وړ وګرځوي.

له خپلو ګټلو پیسو څخه د زکات مبلغ ویستل د دې خبرې عملي سپیناوی دی چې اصلي ورکوونکی ذات خدای دی. دا چې ورکوونکی ذات خدای دی نو بنده ته بویه چې د لوی څښتن له ورکړې مال څخه د خدای په لاره کې لګښت وکړي.

د زکات قانون له شتمنو څخه اخیستل او نېستمنو ته ورکول، دی. د شتمنۍ دا اوښتل را اوښتل د رامنځته کېدونې نا برابرۍ د ښېرته برابرولو یوه لاره ده. په دې ډول شتمنو ته دا ور په ګوته کېږي چې پر تاسو هغه خلک مالي حق لري چې په وېش کې کمه برخه ورکول شوې او یا له یوې مخې نه ده ورکول شوې.

زکات له اخلاقیاتو سره هم تړاو لري. زکات له یوې خوا له ورکوونکي څخه د بخیلۍ او ځانغوښتنې جذبات لرې کوي، د ورکوونکي په زړه کې د سخاوت او انسان پالنې روح پنځوي.

بل خوا د زکات ترلاسه کوونکي لپاره د زکات ګټه دا ده چې نور خلک خپل ورونه او خواخوږي وګڼي. د نورو په تړاو یې په زړه کې د حسد او کینې جذبات را ونه پارېږي. بلکې د دې پر ځای یې د نورو لپاره په زړه کې د مینې جذبات را وټوکېږي.

دا چې زکات د الله په لاره کې ویستل کېږي، له همدې امله دا هم د نورو عبادتونو په څېر یو عبادت دی. په ښکاره ډول د انسانانو تر منځ وېشل کېږي، خو د خپل حقیقت له مخې د انسان او خدای ترمنځ اړیکه رامنځته کوي، او د انسان له خدای سره د یو ځای کولو یوه وسیله ده.

زکات د خپل روح له مخې عبادت او د خپل بیروني اغېز له مخې یو خدمت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حج

حج يو عبادت دی. پر وسمن کس باندې په ټول ژوند کې يو ځل فرض دی. هغه څوک چې وس يې نه لري، پر هغه د حج فرضيت نشته.

په حج کې انسان له خپل وطن څخه وځي او حجاز ته ځي. هلته د مکې سپېڅلي ښار ته ور ننوځي او له کعبې څخه طواف کوي. د صفا او مروه د دوو غونډيو ترمنځ سعي کوي. په عرفات کې قيام کوي. جمار په کاڼو وولي. قرباني کوي. دا ډول بېلا بېل عبادتي دودونه د ذوالحجې په مياشت کې ترسره کېږي. همدې ته حج ويل کېږي.

حج د بنده له خوا د خپل ځان خدای ته د سپارلو يوه علامتي بڼه ده. د دې اعمالو په وسيله بنده دا ژمنه کوي چې نوموړی به خپل ځان خدای ته سپاري. د ده ژوند به يوازې له خدای څخه را څرخېږي. او د خدای په پار د هر ډول قربانۍ لپاره اماده دی.

د حج په جريان کې انسان د کعبې ودانوونکي، حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام را يادوي. د پيغمبر صلی الله عليه وسلم تاريخي اثارو ته ګوري. د خپل ژوند څو ورځې په هغه چاپېريال کې تېروي چېرته چې د اسلام لومړنی تاريخ پنځول شوی.

په دغه ډول حج د يوه انسان له خدای او د هغه له پيغمبرانو سره د يو ځای کولو وسيله وګرځېږي. د خدای د نېکو بندګانو ژوند را يادوي او د اسلام له تاريخ سره د ژوندۍ اړيکې د رامنځته کېدو ذريعه وګرځي.

دغه راز، حج د ټولې نړۍ خدای لمانځونکي را يو ځای کوي، او د ټولې نړۍ د مؤمنانو په ذهن کې دا حقيقت را تازه کوي چې د هغوی نسلونه او قومونه که څه هم بېل بېل دي، خو پر يوه خدای عقيده د دوی د نړيوال يو والي پياوړی بنسټ دی. د هېواد په اعتبار که دوی هر څومره له يو بل سره توپير لري، خو د يوه خدای د لمانځونکي په توګه ټول سره يو دي او د تل لپاره به يو وي. حج اصلاً د خدای عبادت دی، خو له عملي اړخه ور کې نورې ډېرې ګټې هم نغښتې دي. په همدې کې يوه د ملي يو والي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخلاق

له اخلاقو مراد خپل منځي چلند دی. اخلاق د هغه چلند نوم دی چې په ورځني ژوند کې يې يو انسان له بل انسان سره کوي.

د دې اخلاقو اصول به څه وي؟ د دې ساده اصول دا دی چې د نورو لپاره هماغه څه وغواړئ چې د ځان لپاره يې غواړئ، له نورو سره هماغسې چلند وکړئ څه ډول چلند چې تاسو د ځان لپاره خوښوئ.

هر انسان پوهېږي چې خوږې خبرې يې خوښېږي. د همدې لپاره هر انسان ته بويه چې له نورو سره خبرې کوي، نو په خوږه لهجه ورسره وغږېږي. هر انسان غواړي چې څوک يې په لاره کې خنډ جوړ نه کړي، نو هر انسان ته پکار دي چې د نورو په لاره کې د خنډ له رامنځته کولو څخه ډډه وکړي.

هر انسان غواړي چې نور ورسره د خواخوږۍ او همکارۍ چلند وکړي. د همدې لپاره هر انسان ته پکار ده چې هر کله له نورو سره مخ شي، له هغوی سره د خواخوږۍ او همکارۍ کولو هڅه وکړي.

د اخلاقو دا معيار ډېر ساده او فطري دی. دا دومره ساده دی چې هر انسان په اسانۍ پرې پوهېدای شي، هغه که پوه وي يا ناپوه، تر دې چې که ړوند يا معذور انسان هم په ډېرې اسانۍ پر دې پوهېدای شي چې کوم شی يې خوښېږي او کوم څه يې نه خوښېږي؛ دې حديث انساني اخلاقو ته داسې معيار ورکړ چې هېڅوک يې هم په پوهېدو کې پاتې نه راځي، په دې ډول اسلام هر انسان ته د هغه د ذاتي تجربې په رڼا کې په ډاګه کړه چې له خلکو سره څه ډول چلند وکړي او کوم ډول يې ونه کړي.

په حديث کې راځي چې تر ټولو ښه انسان هغه دی چې اخلاق يې تر بل هر چا ښه وي. د دې لارښوونې په اساس يو ښه انسان کېدل کوم ستر راز نه دی، د دې ساده فورمول دا دی چې انسان له دوه مخي چلند څخه ډډه وکړي. نو په دې کار سره به د لوړو انساني اخلاقو څښتن شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صبر

د صبر معنا ده تم کېدل، ډډه کول. د انسان هدف دا دی چې په لوړو ارزښتونو په دنیا کې ژوند تېر کړي. خو په ژوند کې ګام په ګام داسې ناوړه خبرې مخې ته راځي چې انسان پارولی شي او د انسان نښه له اصلي هدف څخه بل لوري ته ګرځولی شي.

په داسې حالت کې که انسان داسې وکړي چې په هره پارېدونکې خبره وپارېږي، او له ناخوښ شي سره ښکېل شي، نو د خپل هدف په لور سفر کې به بریالی نه شي او له نا اړوندو شیانو سره به لاس او ګرېوان پاتې شي.

د دې ستونزې یوازینی حل صبر دی. د صبر معنا دا ده چې کله انسان له یوې ترخې تجربې سره مخ شي نو د پارېدو پر ځای د زغم او تېرېدنې لاره غوره کړي. ټکانونه وسهي او د ربنتینولۍ په لاره وړاندې ګام پورته کړي.

صبر له یوې خوا په خارجي نړۍ کې د پېښېدونکو ستونزو عملي حل لاره ده؛ او له بل خوا د انسان لپاره د خپل شخصیت د ودانولو یوه ذریعه ده. د صبر نه کوونکي انسان شخصیت د منفي رجحاناتو په منځ کې وده کوي او هغه کس چې صبر وکړي د هغه شخصیت د مثبتو رجحاناتو په منځ کې وده کوي.

صبر ځوړتیا نه ده. صبر له هیجان ډکې لارې پرېښودو او د هوښیارتیا په لور اقدام کولو ته وایي. صبر دا دی چې انسان په نازکو وختونو کې خپل جذبات کنترول کړي، خپل عقل په کار واچوي او په ګټور مسیر باندې د خپل عمل لپاره ډګر ولټوي.

دا دنیا په داسې ډول ودانه شوې چې دلته هر شخص ارومرو له ځوروونکو خبرو سره مخ کېږي، په سترګو نه ښکارېدونکې صحنې یې مخې ته راځي، د نه اورېدو وړ غږونه باید واوري؛ په داسې حالت کې د ښکېلتیا لاره نیول بې صبري بلل کېږي او د مخ اړولو طریقې ته صبر ویل کېږي. په اوسنۍ نړۍ کې بریالیتوب یوازې د هغو خلکو په برخه کېږي چې په ستونزمنو وختونو کې د صبر لمن را ټینګه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رښتيا ويل

مؤمن يو رښتينی انسان وي. تل رښتيا وايي. په هر ځای کې هماغه خبره کوي چې له واقعيت سره سمه وي. مؤمن دا نه شي سهلی چې دروغ ووايي او هغه څه چې رښتيا دي، هغه څرګند نه کړي. رښتيا ويل څه دي؟ رښتيا ويل دا دي چې د انسان په علم او وينا کې ټکر او تضاد نه وي. دی چې په څه پوهېږي، هماغه ووايي او څه چې وايي، هغه هماغه څه وي چې په علم کې يې وي. د دې پرعکس دروغ دا دي چې د انسان پوهه ورته يو څه وايي، خو په خپله ژبه دی يوه بله خبره کوي.

رښتينولي د مؤمن د شخصيت تر ټولو غوره اړخ دی. مؤمن يو پر اصولو ولاړ انسان وي. او اصولي انسان ته له دې پرته بله لاره او چلند روغ نه ښکاري چې کله خبره کوي، نو رښتيا ووايي. د رښتينولۍ په خلاف غږېدل ورته په هېڅ وخت کې هم شونی نه وي.

د خدای نړۍ ټوله په رښتينولۍ ولاړه ده. دلته هر څه خپل ځان په هماغه څېره کې را ښکاره کوي چې حقيقي څېره يې وي. لمر، سپوږمۍ، سيندونه، غرونه، ونې، ستوري، سيارې ټول پر رښتينولۍ بنا دي. دوی خپل ځان هماغسې ښيي، څنګه يې چې حقيقت دی. د خدای په پراخه نړۍ کې د هېڅ شي بنسټ هم پر دروغو نه دی ايښودل شوی. هېڅ شی هم داسې نه دی چې حقيقت يې بل څه وي او خپل ځان په يوه بله څېره کې ښکاره کړي.

همدا د فطرت اصليت دی چې په آفاقي ډول خپور شوی دی. مؤمن هم کټ مټ له همداسې شخصيت څخه برخمن وي، نوموړی له دروغو او دوه مخۍ څخه په بشپړ ډول سپېځلی وي. مؤمن سر تر پايه د رښتينولۍ بېلګه وي. د ده ټول وجود په رښتينولۍ کې نغښتی وي. چې ورته وکتل شي نو داسې احساسېږي چې له باطن نه تر ظاهر پورې يو رښتينی انسان دی.

رښتيا ويل د مؤمن لپاره يوه پاليسي نه، بلکې د هغه دين دی. د رښتينولۍ په برخه کې جوړجاړی کول ورته امکان نه لري. دی رښتيا وايي، ځکه له دې پرته ژوندی نه شي پاتې کېدای. دی رښتيا وايي، په دې چې دی پوهېږي چې رښتيا نه ويل د خپل ځان نفي کول دي، او هغه شی چې د خپل ذات نفي کوي د هغه ترسره کول هېچا ته هم ممکن نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژمنه

په ټولنيز ژوند کې د خپلمنځي معاملاتو په جريان کې بيا بيا داسې کېږي چې يو شخص له بل شخص سره يوه ژمنه کوي. دا ډول ژمنه په ښکاره د دوو انسانانو يا دوو ډلو ترمنځ وي، خو په دې کې درېيم لوری الله تعالی وي چې د شاهد په توګه خامخا په دې ژمنه کې دخيل وي. د همدې لپاره هره ژمنه يوه خدايي ژمنه وګرځېږي.

له همدې امله مؤمن د ژمنې په تړاو ډېر زيات حساس وي. دی په دې باور وي چې هره هغه ژمنه چې د دوو کسانو ترمنځ کېږي، پر هغې خدای ساتندوی وي او د خدای په وړاندې به پوښتل کېږي. دا باور دی اړ باسي چې د ژمنې په هکله تر وروستي بريده مسؤل وي چې کله له يو چا سره ژمنه کوي، نو خامخا يې پوره کړي.

په کومه ټولنه کې چې خلک له دې ځانګړتيا څخه برخمن وي چې خامخا خپله ژمنه بشپړه کړي، د هغې ټولنې هر وګړی د وړاندوينې وړ شخصيت لرونکی انسان ګرځي. په داسې ټولنه کې هغه ځانګړی صفت را وټوکېږي چې په نوره نړۍ کې په پرېمانه کچه شتون لري. د کايناتو هره برخه تر وروستي بريده په روغ ډول خپل عمل ترسره کوي. د مثال په ډول د ستورو او سيارو د چورلېدو په هکله وړاندوينه کېدای شي چې سل يا زر کاله وروسته به چېرته وي. په همدې ډول د اوبو په هکله مخکې له مخکې لا موږ پوهېږو چې د تودوخې په څو درجو به اېشېږي. په دې ډول ټوله نړۍ د وړانديني وړ ځانګړتيا څخه برخمنه ده.

په کومه ټولنه کې چې خلک د ژمنو پر ځای کوونکي وګرځي، په هغه ټولنه کې له خپل ځانه ډېرې نورې ښېګڼې وده کوي. د بېلګې په توګه په داسې ټولنه کې په راکړه ورکړه کې شخړې نه وي، په داسې ټولنه کې پر يو بل د باور فضا خوره وي، په داسې ټولنه کې هر تن د ارامتيا په حالت کې وي ځکه دا اندېښنه ورسره نه وي چې د نورو له خوا به د ژمنې ماتولو چلند ورسره وشي.

ژمنه پر ځای کول يوه لوړه اخلاقي ځانګړنه ده. او ايمان يوه انسان ته همدا لوړه اخلاقي ځانګړنه ور په برخه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاکوالی

مؤمن یو پاک انسان وي. له هر څه مخکې ایمان د ده روح ته پاکوالی ببښي. د دې په پایله کې یې ظاهر هم پاک شي. د ده ایماني مزاج د پاکوالي خوښوونکی انسان ترې جوړ کړي.

مؤمن د خپل لمانځه لپاره هره ورځ لږ تر لږه پنځه ځله لاس، پښې او څېره وينځي او اودس کوي. هره ورځ یو ځل غسل کوي او خپل ټول بدن پاکوي. د هغه کالي که څه هم ساده وي، خو تل وينځلې، پاکې او صفا جامې اغوندي.

د دې ترڅنګ دی خوښوي چې کور یې پاک او صفا وي. له همدې امله هره ورځ د کور پاکوالی، د کور د سامان په ښکلا ایښودل، له هر هغه شي څخه د کور پاک ساتل چې بدبويه يا د چټلتيا رامنځته کوونکی وي، دا ټول شیان یې د ورځني ژوند برخه وګرځي. مؤمن له دې پرته د ارامتیا احساس نه کوي تر څو پورې یې چې له بدن نه نیولې د کور تر هر شي پورې پاک او صفا نه وي.

د پاکوالي دا ذوق یې یوازې تر خپل بدن او کور پورې محدود نه وي. د ده ذوق له کور دباندې تر ګاونډې پورې هم وزرې کوي. دی غواړي چې هر چېرته اوسېږي، ټول شاوخوا چاپېریال یې پاک وي. په بشپړ ډول دې ته پاملرنه کوي چې دی یا د کور شاوخوا کسان د چاپېریال د ککړولو لامل ونه ګرځي. همدا روزنه نورو ته هم ورکوي. تر هغه وخته نه ارامه کېږي تر څو چې په خپل ټول ګاونډ کې د پاکوالي او نظافت چاپېریال رامنځته نه کړي.

د عامو وګړو لپاره پاکوالی یوازې پاکوالی دی. خو د مؤمن لپاره پاکوالی په عامه معنا کې هم پاکوالی دی او ورسره یو عبادت هم دی، ځکه چې دی پوهېږي چې خدای پاک او سپېڅلي خلک خوښوي.

بله دا چې د مؤمن ایمان د دې خبرې پخلی کوي چې کله خپل بدن پاک کړي نو روح یې هم ورسره پاک شي. د همدې لپاره چې کله دی د بدني پاکوالي عمل ترسره کوي، نو په ورته وخت کې د ده له خولې دا دعا راوځي چې: ((یا الله! له ظاهر سره مې باطن هم راته پاک کړه)) او دا دعا یې د روح د پاکوالي لامل هم وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زغم

زغم یوه غوره انساني او اسلامي ځانګړنه ده. زغم د نورو رعایت او منلو ته ویل کېږي. د دې په مقابل کې نه زغم دا دی چې انسان یوازې خپل ځان وپېژني، او د نورو له غوښتنو څخه بې خبره وي. زغم یو لوړ انساني روح دی او شریعت یې په بېلا بېلو الفاظو یادونه کړې، مثلاً – رِفق، تالیفِ قلب، شفقت، علی الخلق، او داسې نور.

کله چې په انسان کې خدای لمانځنه او رښتیني دینداري را وټوکېږي، نو دی د ځانغوښتنې تر چتر لاندې راتلونکو ټولو بدیو څخه لوړ شي. دی یوازې په خپل ځان کې د اوسېدو پر ځای په حقایقو کې ژوند کول پیل کړي. داسې انسان له خپل مزاج سره سم نورو ته د مینې په سترګو ګوري. له نورو څخه د هېڅ شي تمه هم نه لري، ځکه که نور ورسره اختلاف وکړي او یا ښه چلند ورسره ونه کړي، دی بیا هم د هغوی لپاره د خیر غوښتونکی وي. هغه مهال هم دی د نورو مراعت کوي، په هماغه وخت کې هم دی له نورو سره د زغم چلند کوي.

زغم دا دی چې انسان په هر حال کې نورو ته درناوی وکړي، که څه هم له ده سره همغږي وي او که ورسره خلاف وي. دی په هر حال کې دوهم شخص ته لوړه انساني مرتبه ورکوي، که خپل یې وي که پردی. دی د نورو په حق کې په هر حال کې د خواخوږۍ چلند کوي. که څه هم د نورو له خوا په ښکاره د نه خواخوږۍ څرګندونه ورته وشي.

د زغم معنا په اصل کې د نورو منل او رعایت کول ده. په ټولنیز ژوند کې خامخا د یوه او بل ترمنځ اختلاف پېښېږي. د مذهب، کلتور، دود او ذاتي ذوق توپیر په هره ټولنه کې وي. په داسې حالت کې غوره انساني تګلاره دا ده چې انسان خپلو اصولو ته ژمن وي او د نورو د رعایت او منلو لاره ونیسي. د خپل ځان په هکله د اصولو خوښوونکی وي، خو د نورو په چارو کې زغم لرونکی وي. خپل ځان ته د معیار په رڼا کې وګوري، خو کله چې خبره د نورو وي نو د زغم او پراخه سینې تګلاره خپله کړي. دا زغم د انساني شرافت یوه لازمي غوښتنه ده. اسلام په انسان کې همدا لوړ شرافت را پنځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مخ اړول

د اسلام یو مهم ټولنیز اصول مخ اړول یا له پامه غورځول ده. یانې د شکایت او اختلاف پر مهال له ټکر او مخالفت څخه ډډه کول. د غوسې پر مهال د غبرګون لاره نیول او د ځان لپاره مثبت چلند خپلول.

د هر نر او ښځې مزاج او طبیعت له بل نارینه او ښځینه څخه بېل وي. په همدې ډول د یو او بل تر منځ ډېر زیات فرقونه دي چې په اساس یې بیا بیا ځلې انسان له ځورووونکو تجربو سره مخ کېږي. د یوه او بل ترمنځ د اختلاف ډول ډول صورتونه را منځته کېږي. په ټولنیز ژوند کې – هغه که د کور دننه وي او که له کور بهر – له دا ډول ناخوښ حالت سره مخ کېدل بالکل یوه فطري خبره ده. د دې مخنیوی کول په هېڅ حال کې د امکان وړ نه دی.

اوس یوه لاره خو دا ده چې له هر اختلاف سره لاس او ګرېوان شو. له هر ناخوښ حالت سره نېغ په نېغه مبارزه وکړو او د له منځه وړلو هڅه یې وکړو. دا ډول هڅه کول یو غیرفطري کار دی. په دې چې دا کار یوازې ستونزې زیاتوي. او په هېڅ حال کې یې هم له منځه نه شي وړی.

په اسلام کې په داسې ځایونو کې د مخ اړولو (اعراض) ښوونه شوې ده. یانې د ناخوښ حالت د له منځه وړلو لپاره د هغه زغمل، له قهر او غوسې سره د مبارزې پر ځای یې له پامه غورځول او د اختلاف سربېره له خلکو سره په یو والي اوسېدل.

د اسلام له مخې دا یوازې یوه ټولنیزه تګلاره نه ده بلکې د ستر ثواب کار هم دی. د خلکو په منځ کې په دې ډول اوسېدل په عامو حالاتو کې هم یو ثواب دی. خو کله چې یو تن د شکایت او اختلاف سربېره له خلکو سره پر ښه چلند ولاړ وي، خپل منفي جذبات وځپي او د مثبت چلند ثبوت وړاندې کړي، نو ثواب یې لا ډېر زیات شي. د خدای په نزد به داسې خلک له نېکانو څخه ګڼل کېږي، یانې هغه خلک چې په دنیوي ژوند کې یې د غوره اخلاقو او لوړ انسانیت ثبوت وړاندې کړی.

له اعراض پرته لوړ انساني شخصیت لرل، ناشونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اختلاف پر مهال

اختلاف د ژوند یوه برخه ده. د بېلا بېلو لاملونو له امله د خلکو په منځه کې اختلافات رامنځته کېږي. څرنګه چې د عامو خلکو په منځ کې اختلاف وي، په همدې ډول د سوچه او مؤمنو انسانو ترمنځ هم اختلاف پېښېږي. د اختلاف مخه نه شي نیول کېدای. هو، دا کېدای شي چې د اختلاف سربېره انسان پر سم او روغ چلند ولاړ وي.

مؤمن هغه دی چې اختلاف د نیت مسئله ونه ګرځوي. اختلاف یوازې تر هغو بریدونو پورې وساتي په کومو کې چې اختلاف رامنځته شوی وي. په یوه خبره کې د اختلاف له کبله یو څوک په هره معامله کې تېروتی ګڼل، په یوه خبره کې له اختلاف پېښېدو وروسته هغه ته منافق، بد نېتی او بې اخلاصه ویل، له یوې مخې غیر اسلامي کړنلاره ده.

د اختلاف د رامنځته کېدو پر مهال اړیکو ته د پای ټکی ایښودل ښه کار نه دی. پکار ده چې په اختلافي مسئله باندې ښه جدي بحث وشي او ورسره خپلمنځي اړیکې هم په خپل حال پاتې وي. له اختلاف لرونکي شخص سره تګ راتګ پرېښودل یا له هغه سره ناسته پاسته کول په هېڅ حال کې هم سم کار نه دی.

په دې دنیا کې هر شی د امتحان لپاره دي. په همدې ډول اختلاف هم د امتحان لپاره دی. انسان ته بویه چې د اختلاف پر مهال ډېر پام وکړي. ورنه بویه چې هر وخت دا هڅه وکړي چې کوم داسې ناسم غبرګون ترې ښکاره نه شي چې الله ته خوښ نه وي.

د اختلاف پر مهال پر انصاف پاتې کېدل، بې له شکه یو ستونزمن کار دی. خو ثواب یې ډېر زیات دی. په اسلام کې هر روغ کار عبادت دی. دا هم یو غوره عبادت دی چې د اختلاف او شخړو سربېره انسان خپل زړه د دښمنۍ او غچ له نفسیاتو څخه وژغوري او د اختلاف سربېره د عدل او نیاو په څنګ کې ولاړ وي.

د اختلاف رامنځته کېدل بده خبره نه ده، بده خبره دا ده چې د اختلاف له پېښېدو وروسته انسان په امتحان کې پاتې راشي. د اختلاف پر مهال د تقوا تر بریدونو پورې اوسېدل غوره اسلامي عمل دی او د اختلاف پر مهال د تقوا له بریدونو څخه پورې وتل، یوه سخته غیراسلامي کړنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګاونډي

ګاونډی د یوه انسان تر ټولو نږدې ملګری دی. د کورنۍ له غړو وروسته چې انسان تر بل هر چا زیات له کومو خلکو سره مخ کېږي، هغه د ده ګاونډیان دي. د ګاونډي خوښ ساتل، له هغه سره ښې اړیکې پالل، د خدای لمانځنې د ژوند یو مهم اړخ دی.

ګاونډی که څه هم د خپل مذهب وي او که د پردي مذهب، که د خپل قوم وي او که د بل قوم، په هر حال کې د پاملرنې وړ دی. په هر حال کې یې باید هغه حق ورکول شي چې د شریعت او انسانیت غوښتنه ده.

په حدیث کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په خدای قسم هغه څوک مؤمن نه دی، په خدای قسم هغه څوک مؤمن دی، په خدای قسم هغه څوک مؤمن نه دی چې له بدیو څخه یې ګاونډی په امن کې نه وي. د دې حدیث له مخې که یو مسلمان خپل ګاونډی وځوروي او داسې ژوند تېر کړي چې ګاونډي ته ترې تکلیف ورسېږي، د خپل ګاونډي لپاره د هغه د زړه د ازار لامل وګرځي، نو د داسې مسلمان ایمان او اسلام به تر شک لاندې راشي.

د یوه انسان د انسانیت او د دیني جذبې لومړنی معیار د ده ګاونډی دی. ګاونډی د دې خبرې سپیناوی دی چې په یوه انسان کې انساني جذبه شته او که نه؛ او دا چې دی د اسلامي احکامو په هکله حساس دی او که نا‌ړامه.

که د یو چا ګاونډی ترې خوښ وي، نو پوه شئ چې هغه انسان ښه دی. او که یې ګاونډی ترې خفه وي، نو دا د دې خبرې ثبوت دی چې هغه انسان ښه نه دی.

د ګاونډي په تړاو په شریعت کې چې کوم احکام راغلي له هغو دا په ډاګه کېږي چې مؤمن ته بویه چې د خپل ګاونډي یو طرفه رعایت وکړي. د خپل ګاونډي چلند له پامه وغورځوي او له هغه سره نېک چلند وکړي.

ښه ګاونډی کېدل پخپله د انسان د ښه والي ثبوت ورکوي. همداسې انسان به خدای له خپلو لورونو او رحمتونو څخه برخمن کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حقوق العباد

پر مؤمن یو مسؤلیت هغه دی چې د الله له خوا ورته ټاکل شوی، دې ته ((حق الله)) وایي. یانې په الله تعالی له خپلو ټولو صفاتو او کمالاتو سره ایمان راوړل، د هغه عبادت کول، د هغه په وړاندې ځان ځوابوېونکی ګڼل. خپل ځان پر دې خوشالول چې هر کله د الله کومه غوښتنه راشي نو سمدلاسه به یې منم او د زړه له اخلاصه به پرې عمل کوم.

د مؤمن دوهم مسؤلیت هغه دی چې حقوق العباد ورته ویل کېږي – یانې د بندګانو حقونه. دا هغه مسؤلیت دی چې پر ده باندې د نورو انسانانو په تړاو ور له غاړې کېږي. هر نارینه او ښځینه چې د ده خپلوان وي، یا یې ګاونډي وي، یا یې همېوادوال وي، یا یې کاروباري شریک وي، هر یو پر ده یو څه حق لري. د هغوی د حقونو پر ځای کول د مؤمن له اړینو مسؤلیتونو څخه دی. د هغوی د حقونو له پر ځای کولو پرته دی د خدایي مرستو مستحق نه شي ګرځېدای.

حقوق العباد څه معنا لري؟ معنا یې دا ده چې هر کله او هر چېرته یو مؤمن له نورو انسانانو سره مخ شي نو له هغوی سره هغه چلند وکړي چې د اسلام له غوښتنو سره سم وي، له هغو سره هېڅ داسې چلند ونه کړي چې د اسلام پر معیار برابر نه وي.

د مثال په ډول، نورو ته درناوی کول او هېڅکله یې سپکاوی نه کول. نورو ته ګټه رسول. او که ګټه رسول ناشونی وي، نو لږ تر لږه له خپل زیان څخه د هغه ژغورل. له نورو سره کړې ژمنې او وعدې پوره کول او هېڅکله یې هم نه ماتول. د نورو پر مال او دارایي د ناروا ولکې هڅه نه کول. له نورو سره په هر حال کې عدل کول او هېڅکله هم د بې انصافي معامله نه ترسره کول. له هر چا سره د نېک ګمان معامله کول او د یو چا په هکله پرته له دلیل څخه په بدګمانۍ کې نه اخته کېدل. هر چاته د هغه د ګټې له مخې د ښېګڼې مشوره ورکول او هېڅکله هم چاته ناسمه مشوره نه ورکول، او داسې نور او نور.

هر انسان دې د نورو په تړاو خپل انساني مسؤلیتونه پر ځای کړي. همدې ته حقوق العباد ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انسان تصور

انسان د خدای بنده دی. الله تعالی انسان د یوه پلان له مخې پنځولی دی. هغه دا چې په دنیا کې یې تر یوې مودې پورې وازمايي. او څوک چې په دې ازموينه کې بريالی شي، هغه ته انعام او جزا ورکړي. او کوم خلک چې پر دې امتحان کې پاتې راشي، هغوی ته سزا ورکړي.

د دې ازموينې په اساس په دنيوي ژوند کې انسان ته ازادي ورکول شوې ده. دلته چې انسان هر څه لاسته راوړي، هغه د ده حق نه وي، بلکې يوازې د ازموينې پانه وي. هر حالت يې يو امتحان وي، او په هر حال کې انسان ته بويه چې موخيز کارونه ترسره کړي.

د انسان لپاره سم چلند دا نه دی چې غوښتنې او عقل يې کوم خوا ته برابر کړي، په هماغه خوا روان شي. بلکې سم چلند دا دی چې د خپل تخليق پر الهي پلان ځان پوه کړي، باور پرې وکړي او له هماغه سره سم ژوند تېر کړي.

انسان د خپلې شته ازادۍ د ناسمې کارونې له کبله له خدايي مسير څخه کوږوالی کولی شي، خو خپل ځان د کړې لارې له پايلو څخه نه شي ژغورلی.

په داسې حالت کې د هر انسان دا خپله ګټه ده چې د خپل ژوند د لوري په ټاکلو کې ډېر زيات محتاط وي. د دې پر ځای چې خپله خوښه لارښود وګرځوي، د خدای خوښه د لارې ملګرې کړي. په خپلو خواهشاتو پسې د منډو پر ځای د خدای د اوامرو په چوکاټ کې خپل ژوند تېر کړي.

انسان د خدايي تخليق شاهکار دی، خو ورسره د خدای تر تخليقي پلان لاندې هم دی. د همدې دواړو اړخونو په رعايت کې د انساني پرمختګ راز نغښتی دی.

انسان د نوي صنعتي تمدن په ودانولو کې داسې برياليتوب ترلاسه کړ چې د فطرت قوانين يې کشف کړل او د ځان په ګټه يې کارول. په همدې ډول په راتلونکي ژوند کې به هم ستر برياليتوب د هماغه انسان په برخه وي چې کله د انسانيت په هکله د خدای تخليقي مسير وپېژني او په سم ډول يې ور خپل کړي او خپل ژوند پرې ودان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خلکو خدمت

هغه غوره جذبات چې یو مؤمن یې باید ولري، له هغو څخه یو د خلکو خدمت (خدمتِ خلق) دی. یانې د خدای مخلوق ته ګټه رسول. د خلکو اړتیاوې بشپړول. د کوم عوض له تمې پرته د هر چا اړتیاوې پوره کول.

نورو ته ګټه رسول په اصل کې د ځان په هکله د خدایي نعمت اعتراف دی. هماغه کس نورو ته ګټه رسوي چې د نورو په پرتله زیاتې ځانګړنې پکې وي، لکه د سترګور انسان بې سترګو (ړوند) انسان ته ګټه رسول، د یوه روغ انسان د یوه معذور انسان په درد خوږل کېدل، د یوه شتمن انسان یوه نېستمن ته ګټه رسول. د یوه باحیثیته انسان یوه بې حیثیته انسان ته ګټه رسول.

په داسې وخت کې چې کله د خدای د ورکړي حیثیت له مخې یو انسان له بل چا سره مرسته کوي، نو دی په دې کار سره د خدای احسان ته غاړه ږدي. دی په پټه خوله دا وایي چې خدایه! هر څه چې راسره دي، هغه تا راکړي، اوس یې ستا په لاره کې مصرفوم، نو موږ دواړو ته لا زیات رحمتونه او برکتونه را په برخه کړه.

د خلکو د خدمت له لارې انسان یوازې له نورو سره مرسته نه کوي، بلکې د خپل ځان حیثیت ته وده ورکوي. د لاسته راغلي شي یوازې د خپل ځان لپاره کارول، داسې ده لکه په حیواني ډول ژوند کول. ځکه چې حیوان هم همدا کار کوي چې کوم څه ورسره وي، یوازې د ده وي او په هغه کې د بل حیوان ونډه نه وي.

خو انسان له دې کچ څخه را پورته دی. انسان په ټولو مخلوقاتو کې تر ټولو افضل دی. د انسان د لوړې سویې له مخې چې کومه رویه ده هغه یوازې دا ده چې د خپل ذات په جال کې را ګیر نه وي، بلکې ټول انسانیت ته غېږه ورکړي. په دنیا کې داسې ژوند تېر کړي چې د نورو خواخوږی وي. د نورو خدمت ته د تل لپاره اماده وي. په خپله شتمني کې د نورو حق همومني.

د خلکو خدمت په بل عبارت د انسانیت خدمت دی او د خدای له عبادت وروسته د انسانیت له خدمت څخه بل لوی کار نشته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مساوات

د اسلام په نزد ټول انسانان برابر دي. د اسلام خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حَجة الوداع پر مهال اعلان وکړ چې هېڅ عرب پر عجم لوړتیا نه لري. هېڅ سپین پوستی په تور پوستي لوړاوی نه لري. د لوړتیا بنسټ یوازې پر تقوا دی نه پر رنګ او نسل.

په انسانانو کې د ظاهري رنګ او نسل او داسې نورو له مخې ډېر زیات توپیرونه لیدل کېږي. خو دا توپیرونه یوازې د پېژندګلوۍ لپاره دي نه د لوړاوي لپاره. د ټولنیز او ملي ژوند د نظام رامنځته کولو لپاره اړینه ده چې په خلکو کې داسې ځانګړنې وي چې د یو او بل په مقابل کې پرې وپېژندل شي. د دې ټولنیزې اړتیا پر بنسټ الله تعالی په انسانانو کې ډول ډول ظاهري توپیرونه ایښي دي تر څو د دنیا نظام او خپلمنځي راکړه ورکړه په اسانۍ ترسره شي.

خو دا ټول ظاهري توپیرونه یوازې د دنیوي پېژندګلوۍ لپاره دي. تر کومه چې د انسان د حقیقي لوړاوي خبره ده نو هغه په ټولیز ډول پر دروني صفاتو بنا ده. د همدې لپاره په حدیث کې راغلي چې خدای د خلکو زړونو ته ګوري، د هغوی بدنونو ته نه ګوري. یانې بدني توپیر یوازې تر انساني معاملاتو پورې اړه لري. د خدای په نزد یوازې هغه خلک له لوړې مرتبې څخه برخمن کېږي چې د خپلو باطني ځانتیاوو له مخې د درناوي وړ وي.

د اسلامي نظام په هره څانګه کې دې انساني برابرۍ او مساواتو ته پام شوی دی. په لمانځه کې ټول انسانان یو ځای په یوه کتار کې ودرېږي. په حج کې د ټولې نړۍ مسلمانان یو ډول جامې اغوندي او د حج مناسک ترسره کوي. په همدې ډول د اسلام په ټولنیز نظام کې هر شخص هماغه مرتبه لري چې د بل شخص لپاره ده. نه د چا لپاره کمه او نه د چا لپاره زیاته.

په اسلام کې هر ډول لویي یوازې د یوه خدای لپاره ده. انسانان د خپلو ظاهري توپیرونو سربېره، ټول په ورته ډول د الله بندګان دي. د انسان او خدای ترمنځ بې لکه شکه توپیر شته، خو د یوه او بل انسان ترمنځ هېڅ ډول توپیر وجود نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انساني ورورګلوي

د اسلام له مخې ټول انسانان یوه خدای پیدا کړي دي. له همدې کبله ټول انسانان په یوې ورورګلوۍ پورې تړلي او پخپلو کې وروڼه وروڼه دي. د یوه او بل انسان تر منځ توپیر کول د خدای د خوښې خلاف کړنه ده.

د انسانیت پیل له یوې جوړې څخه شوی چې آدم او حوا ورته ویل کېږي. انسانان که هر چېرته وي، په هر هېواد کې وي، ټول د هماغه یوه مور او پلار پښتونه دي. د رنګ، ژبې او نورو شیانو توپیر یوازې د جغرافیوي لاملونو له مخې پېښ شوی. د اصل له مخې ټول انسانان بیا هم د هماغه آدم او حوا اولاده ده او له هغوی څخه زېږېدلي او په دنیا کې خواره شوي دي.

د اسلام لارښوونه دا ده چې د رنګ، ژبې او نورو شیانو د توپیر له کبله خلک له یو بل څخه پردي مه ګڼئ، د دې پرعکس بویه چې د یو کس په زړه کې د بل لپاره مینه وجود ولري. هر یو له بل سره مینه ولري. هر یو بل کس ته ګټه ورسوي. ټول انسانان په پراخه معنا له یو بل سره یو ځای واوسېږي هغسې چې خلک په خپلو کورنیو کې اوسېږي.

حقیقت دا دی چې د یوه او بل انسان ترمنځ شته اړیکه د پردیتوب اړیکه نه ده، بلکې د پېژندګلوۍ اړیکه ده؛ د لریوالي اړیکه نه، بلکې د نږدېکت اړیکه ده. د کرکې نه، بلکې د مینې پیوستون دی.

کله چې ټول انسانان د یوه مور او پلار اولاده دي، نو د دې معنا دا هم ده چې ټول انسانان برابر دي. دلته نه وړوکی انسان شته او نه لوی انسان. د وړوکي او لوی توپیر د یوه او بل انسان تر منځ نه دی، بلکې د انسان او خدای ترمنځ دی. تر کومه ځایه چې د انسان پورې اړوند ده، نو ټول انسانان د یوه او بل په مقابل کې له ورته حیثیت څخه برخمن دي، خو د خدای په مقابل کې هېڅ انسان هم ستر نه دی. ټول انسانان په ورته ډول د یوه خدای بندګان او مخلوق دي. خدای ټولو ته په یوه سترګه ګوري. هغه لوړ ښښتن په خپلو مخلوقاتو کې د یوه او بل ترمنځ هېڅ ډول توپیر هم نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تعصب مه کوئ

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ډېر خلک د اسلام مخالف شوو او د اسلام او مسلمانانو په خلاف يې پاځونونه وکړل. په قرآن کريم کې څو ځایه دې حقیقت ته نغوته شوې ده. خو په قرآن کې د دې په مقابل کې چې کومه تګلاره ښودل شوې هغه دا نه وه چې تاسو د هغوی سازشونه را بر بنډ کړئ. د هغوی په خلاف ځوابیه غورځنګ را پورته کړئ. د هغوی د سازش او دښمنۍ د له منځه وړلو لپاره له هغوی سره وجنګېږئ. د دې پرعکس نبي کريم ص او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابوو ته یوازې یوه لارښوونه وشوه او هغه پر الله توکل وه. یانې سازشونه او دښمنۍ يې له پامه وغورځوئ او یوازې پر الله باور ولرئ. له دې ډول خبرو څخه بې پروا شئ او یوازې خپلو مثبتو کړنو ته دوام ورکړئ.

دا یوه ډېره مهمه لارښوونه وه. د دې په وسیله الله تعالی د مسلمانانو ذهن له منفي فکر څخه د مثبت فکر په لور سوق کړ. په یوه ټکي کې د دې قرآني لارښوونې معنا دا وه چې «د نورو په اړه د اندېښنې پر ځای د خپل ځان په هکله فکر وکړئ».

که په ذهن کې دا خبره ځای پر ځای کړای شي چې نور خلک ستاسو پر وړاندې سازش کوي او ټول خلک ستا دښمن شوي دي، د دې پایله به دا وي چې هر چا ته به په شکمنه سترګه ګورئ. تر دې چې د ډلې کوم غړي مو هم که د زغم خبره کوله نو تاسو به ترې اپوټه پوهاوی اخلئ او د دښمن استازی به يې ګڼئ. او په دې توګه له خلکو څخه د خپل ځان په لرې کولو به مو خپل ځان کمزوری کړی وي.

د سازش او پر دښمنۍ ولاړ ذهن یو زیان دا دی چې دا ډول خلک له موضوعي/ذهني اند دود (Objective Thinking) څخه بې برخې شي. د داسې کس فکر یو جانبه او د تعصب په ګرد ګردجن شي. دی حقایقو ته په هغه ډول اصلاً کتلی نه شي، په څه ډول چې هغه دي. د ده مثال د هغه انسان په څېر شي چې د خپلو سترګو د ناروغۍ له کبله په بڼ کې یوازې ازغي ویني. ګواکې داسې انسان د ګلانو د لیدلو وړتیا نه لري. ده ته ټول باغ یوازې له ازغیو ډک ښکاري. په ورته وخت کې به په بڼ کې زرګونه ګلان غوړېدلي شتون لري، خو دی به يې له لیدلو څخه عاجز وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوله ییز انسان

مؤمن یو سوله خوښوونکی انسان وي. ایمان او امن له یو بل سره دومره نږدې دي چې یو مؤمن په هر حال کې د امن ساتلو هڅه او هاند کوي. دی هر شی له لاسه ورکول روا ګڼلی شي، خو د امن له لاسه ورکول ورته د زغملو نه وي.

مؤمن په دې دنیا کې چې کوم ژوند تېرول غواړي، هغه یوازې په سوله ییز چاپېریال کې تېرولی شي. سوله ییز حالات د مؤمن لپاره یو بریالی چاپېریال رامنځته کوي او د بې امنۍ حالت د مؤمن لپاره د مخالف چاپېریال حیثیت لري.

سوله تل یوه قرباني غواړي. هغه قرباني دا ده چې که له بل لوري د بې امنۍ لاملونه هم را وټوکول شي، بیا هم هغه له پامه وغورځول شي او سوله ییزه فضا په خپل ځای وساتل شي. مؤمن تل د دې قربانۍ لپاره اماده وي. دی هر زیان او زیاتی زغمي تر څو سوله ییز حالت ټکنی نه شي او پرلپسې سوله ییز چاپېریال ودان وي.

مؤمن له دننه تر بهر پورې ابادي پلوی انسان وي. د ده ودانوونکي فعالیتونه یوازې په سوله کې دوام موندلی شي. د همدې لپاره دی په هر قیمت امن ساتي، تر څو ودانوونکي فعالیتونه یې بې له خنډ او ځنډ څخه ادامه ولري.

مؤمن د فطرت د بڼ یو ګل دی. ګل په توده هوا کې مړاوی شي او په یخه هوا کې خپل زړه راښکونکي وجود ته دوام ببښي. همدا حال د مؤمن دی. سوله د مؤمن لازمي اړتیا ده. سوله د مؤمن ژوند دی. مؤمن د حرص تر بریده سولې ته هیله من وي، تر څو پر انساني ونې یې د ایمان ګلان را وټوکېږي او بې له کوم خنډ څخه د فطرت په فضا کې را څرګند شي او پسرلي رامنځته کړي.

امن د نړۍ دین دی. امن د فطرت نړیوال قانون دی. خدای د امن حالت خوښوي، د بې امنۍ حالت یې نه خوښېږي. همدا خبره د دې لپاره بسندویه ده چې مؤمن هم امن خوښ کړي او په هېڅ حال کې هم د امن له منځه تلل ونه زغمي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خدای لمانځنې ژوند

د اسلام هدف دا دی چې انسان داسې وګرځوي چې په دنیا کې د خدای لمانځنې ژوند تېر کړي او د خدای نه لمانځنې ژوند په بشپړ ډول پرېږدي. د خدای نه لمانځنې ژوند دا دی چې د انسان لېوالتیاوې له خدای پرته تر نورو شیانو پورې تړلې وي. د ده د پاملرنې مرکز مخلوقات وي نه خالق. دی که ملګرتیا کوي نو د خدای لپاره یې وکړي او که میرځي کوي نو هم یې د خدای لپاره وکړي. د ده د فکر او جذباتو مرکز په بشپړ ډول د خدای ذات وګرځي. کله چې انسان کوم ځای ته د رسېدو لپاره یوه لاره غوره کوي، نو دی ارومرو پوهېږي چې ښي او کیڼ لوري ته له تاوېدولو پرته باید خپل تګ ته دوام ورکړي. په دې چې له دې پرته دی خپل هدف ته نه شي رسېدای. همدا معامله د انسان او خدای هم ده.

په دې دنیا کې چې کله یو انسان خپل ژوند پیلوي، نو یوه لاره هغه وي چې د خدای په لور ځي. دې ته څېرمه نورې ډېرې لارې هم وي چې هاخوا دې خوا تاو شوې او نورو خواوو ته درومي. د رښتیني خدای لمانځونکي تګلاره دا ده چې په بشپړ پام سره د خدای پر لاره روان اوسي، هېڅکله د ښي او کیڼ لوري لارې ته مخ ور وا نه ړوي. کوم انسان چې خدای ته په ورتلونکي نېغه لاره ولاړ وي، هغه به بې له شکه خدای ته ورسېږي. د دې پرعکس کوم انسان چې یوې او بلې خوا ته واوړي، هغه به په منځ کې لار ورکی پاتې شي او هېڅکله به هم تر خدایه ونه رسېږي.

پر هاخوا دېخوا لارو باندې د لار ورکولو معنا دا ده چې انسان خپلو خواهشاتو ته تابع شي. خپلو ظاهري ګټو ته ارزښت ورکړي. د غوسې، کرکې، حسد او ځانغوښتنې په څېر ولولو ښکار شي. بې له غور او فکر څخه په هغه لور ور منډه کړي چې په وړاندې ورته پرانیستې ښکاري.

د دې پرعکس د خدای لاره دا ده چې انسان د خدای پر احکامو غور وکړي. د سمو او کره پرېکړو له مخې خپل لوری وټاکي او په آخرت کې د ځواب ورکولو په اساس د خپل ژوند چارې مخکې یوسي، نه د لنډمهالو ګټو او خوځښتونو په اساس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سهار او ماښام

اسلام د ژوند یو بشپړ پروګرام دی او د انسان له ټول ژوند څخه را چاپېر دی. له سهار نه تر ماښامه او له ماښام نه تر سهاره پورې د ژوند یوه شېبه هم داسې نشته چې د اسلام له دايرې څخه وتلې وي. یو مؤمن د شپې ویده کېږي او سهار را پاڅېږي. له هر څه مخکې خپل بدن پاکوي او له اودس کولو وروسته د سهار لمونځ ترسره کوي. ګنې دا د مؤمن د ژوند پیل وي چې په پاکوالي او عبادت پیلېږي. له دې وروسته له سهار څخه تر غرمې پورې د معاشي منډو ترړو وخت وي. خو د دې منډو ترړو په اوږدو کې هم مؤمن پرلپسې خدای یادوي. په هره چاره کې د خدای د ټاکلو بریدونو ساتنه کوي. په راکړه ورکړه کې د رښتینولۍ انداز غوره کوي. له خلکو سره په ناسته پاسته کې په بشپړ ډول اسلامي اخلاق ورسره همغاړې وي.

په دې ډول د دوهم لمانځه وخت را ورسېږي چې له غرمې وروسته ترسره کېږي. هغه د ماسپښین لمونځ دی. د ماسپښین د لمانځه په صورت کې له الله تعالی سره خپله اړیکه له سره را ژوندۍ کوي. خپل بدن او روح پاک کړي او یو ځل بیا د ژوند له هلو ځلو سره غاړه غړۍ شي او د یوه اصولي انسان په څېر په خپلو فعالیتونو کې بوخت شي. تر دې چې د دریم لمانځه وخت را ورسېږي چې د مازدیګر لمونځ ورته ویل کېږي. اوس دی بیا د لمانځه په لور ور ګرځي. یو ځل بیا د خدای له رحمتونو څخه خپله ونډه ترلاسه کوي تر څو په راتلونکي پړاو کې یې په درد وخوري.

په دې ډول د مؤمن شېبې تېرېږي تر دې چې لمر ولوېږي او د څلورم لمانځه وخت را ورسېږي چې د ماښام لمونځ ورته ویل کېږي. اوس مؤمن خپل کار پرېږدي او بېرته د لمانځه خوا ته متوجه کېږي. د ټاکلو مقرراتو له مخې لمونځ ترسره کوي او دیني او روحاني غذا ورڅخه ترلاسه کوي. له دې وروسته له لمانځه څخه د لاسته راوړې دیني ذهن تر سیوري لاندې خپلې اړتیاوې بشپړوي. تر دې چې د پنځم لمانځه وخت را ورسېږي چې د ماخوستن لمونځ ورته ویل کېږي. د ماخوستن له لمانځه وروسته مؤمن د خوب ځای ته ورځي. او د خپلې ټولې ورځې د کارونو په هکله له ځان سره حساب کوي، بیا ویده شي، تر څو سهار وختي پاڅېږي او په لا غوره ډول د راتلونکې ورځې پیل وکولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پند اخیستنه

د مؤمن مزاج د پند اخیستنې مزاج وي. دې ته په قرآن کریم کې ((توسم)) ویل شوي یانې له پېښو او کیسو څخه پند اخیستل. د شاوخوا له شیانو څخه درس اخیستل.

ایمان د خپل فطرت په پایله کې له انسان څخه یو حساس موجود ګرځوي. په هره معامله کې تر ژورتیاوو پورې د رسېدو هڅه کوي. د ده مزاج داسې شي چې شیانو ته له سرسري کتنې څخه تېرېږي او ژورو ته یې ور کوزېږي. له کومو شیانو څخه چې خلک په سرسري ډول تېر شي، مؤمن په هغو کې د حکمت خزانې بیامومي او د ویښتیا په پایله کې د بصیرت له نعمتونو څخه برخمن شي.

دا یوه ستره مؤمنانه ځانګړنه ده چې د انسان شخصیت ناپایه وګرځوي. دی هره شېبه نوي نوي شیان لټوي. پراخه کاینات د ده د روح لپاره د رزق یو لوی سترخوان وګرځي.

د لمر په رڼا کې د معرفت نور ور ښکاري. د هوا په څپو کې د رباني لمس تجربې احساسوي. شنې ونې او رنګین ګلان د معنوي نړۍ څرکونه ور ښکاروي. په هر پسرلي کې د یو بل پراخه پسرلي او په هر مني کې د یو بل معنا لرونکي مني ننداري ته کېني.

په دې ډول ټولې انساني او غیرانساني پېښې د ده لپاره د پند یوه زېرمه وي. دی د نورو له پوهې خپله پوهه زیاتوي. د نورو تېروتنې د ده د خپل سمون لامل ګرځي. له مېړي نیولې تر اوښ او له سیندونو نیولې تر غرونو پورې په هر شي کې دی یو داسې اړخ لټوي چې د ده په ویښتیا کې زیاتوالی رامنځته کوي. چې دی له نوو تجربو سره اشنا کوي او تر وروستي بریده یو ستر شخصیت ترې جوړوي.

هغسې چې مادي خواړه د بدن د روغتیا لپاره اړین دي، په همدې ډول پند او نصیحت د انسان روحاني خواړه دي. که مادي خوراک د بدني روغتیا ضامن دي، نو پند د روحاني روغتیا ډاډ در ببښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کورنی ژوند

د اسلام خوږ پیغمبر علیه السلام فرمایي چې په تاسو کې تر ټولو غوره کس هغه دی چې د خپلې کورنۍ لپاره تر ټولو غوره وي (حدیث)؛ دا خبره د کورنۍ د هر غړي لپاره ده – هغه که ښځه وي او که نر، که ماشوم وي او یا لوی. هر یو باید په کور کې د یوې غوره ښځې یا غوره نر کېدو ثبوت ورکړي. هر یو باید د کورنۍ د یوه ښه غړي په توګه ژوند وکړي.

کورنۍ څه ده؟ کورنۍ د ټولنیز ژوند لومړنۍ دبره ده. د ډېرو کورونو له یو ځای کېدو ټولنه رامنځته کېږي. که د کور چاپېریال ښه وي، نو د ټولنې چاپېریال به هم ښه وي او که د کور چاپېریال وران شي، نو د ټولنې چاپېریال به هم خامخا ویجاړېږي. د ښو کورنیو د ټولګې بل نوم یوه ښه ټولنه ده. د دې پرعکس د بدو کورنیو د ټولګې نوم بده ټولنه ده.

د انسان د ښه کېدو تر ټولو لومړنی معیار د هغه کورنۍ ده. که یو انسان په ټولنه کې له نورو سره د ملګرتیا ځرګندونه کوي او د کور دننه په تریخ مزاج ژوند کوي، نو دا ډول کس ته به ښه انسان نه ویل کېږي. ځکه چې د انسان اصلي معیار د انسان د کور دننه ژوند دی نه د کور دباندې ژوند.

په کورني ژوند کې به هر تن په څه ډول اوسېږي؟ هغه داسې چې لویان به پر ماشومانو پام کوي او ماشومان به د لویانو درناوی کوي. سړي به د کور له ښځینه وو سره د نرمۍ چلند کوي او ښځې به د نارینه وو لپاره ستونزې نه را ولاړوي. د کور د ټولو غړو سترګې باید په خپله دنده کې وي، نه په خپلو حقونو باندې. هر یوه ته بویه د خپلې برخې د کار کولو تر څنګ له نورو سره هم د هغوی په کارونو کې مرسته وکړي. هر ګوره په کور کې ربړه را پورته شي، نو هر یو په دې هڅه او هاند کې شي چې ربړه لا زیاته نه شي، بلکې له را پورته کېدو سره سم وځپل شي.

د بریالي کورني ژوند راز په خدمت او همغږۍ کې نغښتی دی. پکار ده چې د کور هر غړی د نورو د خدمت ولوله په زړه کې ولري او اختلاف یا شکایت ته له پام پرته، همغږي او ملتیا ته چمتو اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځان درناوی

په ځان درناوي او ځان لويي (کبر نفس) کې دومره لږ توپير دی چې دا ټاکل کابو ناشونی دی چې چېرته د ځان درناوي برید پای ته رسېږي او له کوم ځايه د ځان لويي پوله شروع کېږي. همدا علت دی چې په اسلام کې ځان درناوي ته هېڅ ډول مرتبه نه ده ورکول شوې.

په ډېرى حالاتو کې ځان درناوی په آر کې د ځان لويي بل نوم وي. که يې تل ته ورښکته شو نو وبه وينو چې ځان درناوی اصلاً د خوښې وړ شی نه دی. د ځان درناوي حقيقت په ډېری حالاتو کې له دې پرته بل څه نه وي چې د ځان لويي يو ښايسته نوم وي.

په اسلام کې د ارزښت وړ شی ځان درناوی نه، بلکې ځان ټيټول ده. په اسلام کې د غوره اخلاقياتو معيار تواضع او عاجزي ده. د دليل پر وړاندې سر ښکته کول، خپله تېروتنه منل، له سپين سترګی په بشپړ ډول ډډه کول، دا د مؤمن ځانګړنې دي او دا ځانګړنې له ځان درناوي سره هېڅ ډول ملګرتيا نه کوي. حقيقت دا دی چې د ځان درناوي مزاج د انسان د تواضع، اعتراف او زغم پر وړاندې خنډ ګرځي، حال دا چې په اسلام کې همدا اخلاقي ارزښتونه دي.

کله د دوو کسانو يا ډلو تر منځ شخړه وي نو دا شخړه ډېر ژر د درناوي مسئله وګرځي. او کله چې په شخړه کې د درناوي او عزت صورت را ولاړ شي، نو له خپل دريځ څخه په شا کېدل انسان ته د ځان سپکاوی ښکاري. د همدې لپاره د خپل عزت او درناوي د ساتلو لپاره دی پر خپل دريځ ټينګ ولاړ وي. د همدې ټينګتن يا ضد يو ښکلی او ګلالی نوم ځان درناوی دی.

روغه اسلامي تګلاره دا ده چې شخړه په هېڅ حال کې هم د درناوي مسئله ونه ګرځول شي. بلکې د امن پلوي ذهن له مخې د هغه د له منځه وړلو کوښښ وشي. په دغه ډول چارو کې سر ښکته کول په اسلام کې مطلوب دي، نه دا چې ضد وکړي او پر خپل دريځ ټينګ ولاړ وي او په دې خبره ځان دوکه کړي چې زه خو د خپل ځان درناوي (عزت نفس) د ژغورلو لپاره دا کار کوم.

ضد يوه اروايي ستونزه ده، حال دا چې تواضع او عاجزي يو ستر عبادت دی. خدای ضد او سپين سترګي نه خوښوي. او په مقابل کې يې تواضع او عاجزي خوښوي او کوم خلک چې په حقيقي معنا د تواضع او عاجزي ثبوت وړاندې کړي، هغو ته په دنيا او آخرت کې لوړې مرتبې ور په برخه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ساده توب

مؤمن هغه دی چې خدای یې وموند. هغه انسان چې خدای یې موندلی وي په فطري ډول په لوړو حقیقتونو کې ژوند کوي. له ظاهري نړۍ ور پورته په معنوي نړۍ کې یې د ځان لپاره د لېوالتیا توکي موندلي وي.

دا ډول انسان له خپل مزاج سره سم د ساده توب خوښوونکی انسان شي. دی په دې اند وي چې «ساده ژوند تېر کړئ، خو خپل فکر مو لوړ وساتئ.»

انسان له معنوي حقیقیتونو سره اشنا شي، د هغه لپاره په ظاهري او مادي شیانو کې هېڅ خوند نه پاتې کېږي. داسې انسان له ساده توب خخه خوند اخلي. د لاسي ښکلاوو راښکلتیا یې په زړه کې پای ته ورسېږي. د ده روح ته فطري شیان ارامتیا ببني. غیرفطري او لاسي رنګینۍ داسې ورته ښکاري لکه د ده دروني نړۍ چې تیت او پرکه کوي او ګواکې د ده په روحاني یون کې چې ورته خنډ را ولاړوي.

ساده توب د مؤمن څواک دی. د مؤمن مرستندوی دی. د ساده توب په را خپلولو مؤمن د دې جوګه ګرځي چې خپل وخت په نا اړوند شیانو کې بې ځایه تېر نه کړي. خپل پام په نا اړینو شیانو کې ښکېل نه کړي. او په دې ډول خپل ځان په بشپړ ډول د غوره هدف په ترلاسي کې تېرولی وشي.

ساده توب د مؤمن خواړه دي. ساده توب یې د تواضع لپاره یوه جامه وګرځي. د ساده توب په چاپېریال کې یې شخصیت په ډېر غوره ډول وده کوي. ساده توب د مؤمن ښکلا ده. ساده توب د مؤمن لپاره ژوند دی. که مؤمن خپل ځان په لاسي او مصنوعي رنګینیو کې ووینې نو داسې به احساس کړي لکه چا چې په زندان کې بندي کړی وي.

مؤمن تر وروستي بریده خپل ځان د خدای بنده ګڼي. دا شی ترې د بندګۍ له احساس سره ژوند کوونکی جوړ کړي او کوم انسان چې د بندګۍ په احساس کې اوسېږي، د هغه مزاج خامخا د ساده توب مزاج وي. د نه ساده توب چلند د ده له مزاج سره سمون نه خوري، له همدې کبله ملګرتیا هم ورسره نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الهي تګلاره

په نړۍ کې بې شمېره ستوري او سيارې دي. دا ټول په يوه پراخه تشيال (فضا) کې په هره شېبه کې را څرخېږي. ګواکې تشيال د بې شمېره خوځنده اجسامو د منډو يو پراخه لوبغالی دی. خو د حيرانتيا ځای دا دی چې په دې ستورو او سيارو کې هېڅکله هم ټکر نه رامنځته کېږي.

د دې راز څه دی؟ د دې راز دا دی چې هر ستوری او هره سياره په ډېرې پابندۍ له خپل چورليز څخه را څرخېږي. له خپل چورليز څخه د ذرې هومره هم بيرون نه وځي. د حرکت همدا قانون دی چې دا ستوري او سيارې يې له خپل منځي ټکر څخه پرلپسې خوندي ساتلې دي.

کټ مټ همدا تګلاره له انسان څخه هم غوښتل شوې. د انسان د هلوځلو لپاره هم خدای يوه دايره ټاکلې ده. پکار ده چې هر انسان په همدې ټاکلې دايره کې حرکت وکړي. کله چې هر انسان په خپله خپله دايره کې حرکت وکړي، نو په ټولنه کې پخپله د امن او ارامتيا حالت را منځته کېږي. او کله چې خلک په خپلو بريدونو کې نه وي او له خپلو پولو څخه پورې ووځي او ها خوا دې خوا منډې ترړې پيل کړي، نو په داسې ټولنه کې به خامخا شخړې او لانجې رامنځته کېږي. له يو بل سره د ټکر کېدو په پايله کې به خلک خپل ځان هم تباه کړي او د نورو د تباهۍ پيلامه به هم وګرځي.

انسان څنګه ټولنيز ژوند وکړي؟ له نورو سره په څه ډول معامله وکړي؟ له نورو سره يې چلند څنګه وي؟ په خپلو خبرو او کړنو کې کوم انداز ور خپل کړي؟ د دې ټولو پوښتنو لپاره الله تعالی څرګند احکام راکړي دي. هغه را ښودلي دي چې يو انسان څه وکړي او څه ونه کړي. کوم خلک چې د ژوند په چارو کې هغه څه وکړي چې خدای يې اجازه ورکړې ده، نو ګواکې په خپله ټاکلې دايره کې حرکت کوي.

د دې پرعکس کوم خلک چې هغه کارونه پيل کړي چې خدای ترې را ګرځولي دي، نو ګواکې له خپلې ټاکلې دايرې څخه اوښتي دي. همدا هغه خلک دي چې په ټولنه کې هر ډول ويجاړې رامنځته کوي. دوی پخپله هم تباه وي او د ټولنې د تباهۍ لامل هم ګرځي.

رښتينی انسان هغه دی چې د خدای په ټاکلې دايره کې ژوند تېروي. همدا هغه خلک دي چې په دنيا کې به هم د خدای له رحمتونو برخمن وي او په آخرت کې به هم د خدای په ابدي رحمتونو سرلوړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شتمني

شتمني د ژوند اړتیا ده، د ژوند هدف نه دی. شتمني که د دې لپاره لاسته راوړل شي چې د ژوند اړتیاوې یې پرې پوره شي، نو د انسان غوره ملګرې ده. خو که شتمني د خپل ژوند هدف وګرځول شي او انسان زیات تر زیاته شتمني ګټل خپل تر ټولو ستر کار وګڼي، نو داسې شتمني یو مصیبت دی، چې انسان به په دنیا کې هم تباه کړي او په آخرت کې هم.

انسان به تر لنډې مودې پورې په دې دنیا کې ژوند کوي. د همدې لپاره دی یو څه سامان ته اړتیا لري چې په اوسېدو کې ورسره مرسته کوي. دا سامان د شتمنۍ په وسیله لاسته راځي. د همدې لپاره د شتمنۍ لاسته راوړل، د هر انسان لپاره اړینه ده. له دې اړخه شتمني د هر انسان لپاره د یوه ګرانبیه مرستندوی حیثیت لري.

خو د انسان د ژوند دوهم اړخ دا دی چې علم به هم ترلاسه کوي. د روحاني پرمختګ او ودې لپاره به کوښښ کوي. د انسانیت په ودانۍ او پرمختګ کې به خپله مثبته ونډه اخلي. خپل ځان به داسې جوړوي چې د خپلې ټولنې یو مرستندوی او ګټور غړی شي.

همدا هغه شی دی چې د ژوند هدف ورته ویل کېږي. د دې هدف ترلاسی یوازې هغه مهال امکان لري چې کله د خپل ځواک یوه برخه په دې کې وکاروي. د شتمنۍ د ګټلو فعالیتونه یوې خوا ته کېږدي او پورته یادو کارونو لپاره خپل وخت وساتي.

شتمني د انسان بدني او مادي اړتیاوې پوره کوي، خو د انسان د روحاني او فکري اړتیاوو د بشپړاوي لپاره بسنه نه کوي. کوم انسان چې شتمني د خپل ژوند هدف وګرځوي د هغه جسم ته به پرلپسې خواړه رسېږي، خو روح به یې له لوږې سره مخ وي، د ده ذهني ځوړتیا به د خوړو د نشتون له کبله داسې شي لکه هېڅ وجود یې چې نه درلود.

له همدې امله مال او شتمني ته فتنه ویل شوې — یانې د انسان لپاره ازمایښت دی، د مال سمه کارونه انسان د هر ډول پرمختګونو په لور سوق کوي. او د مال ناسمه کارونه انسان د تباهۍ کندې ته ور ټېل وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له لاسه ورکول او لاسته راوړل

په دنیا کې انسان کله له لاسه ورکوي او کله یې لاسته راوړي. دا دواړه تجربې داسې دي چې هر انسان ته او هر وخت ور پېښېږي. هېڅوک هم ترې خوندي نه دی.

اوس پوښتنه دا ده چې انسان د دې تجربو په مقابل کې څه ډول غبرګون وښيي؟ اسلام وايي چې دواړه تجربې د ازمايښت تجربې دي. دلته لاسته راوړل په خپل ذات کې بریالیتوب نه دی. همدارنګه له لاسه ورکول په دې معنا نه ده چې انسان بيخي پاتې راغی.

د لاسته راوړلو او له لاسه ورکولو په برخه کې اصلي ارزښت له لاسه ورکول یا لاسته راوړل نه لري. اصلي ارزښت د دې خبرې دی چې کله پر انسان دا تجربې تېرېږي، نو له هغه وروسته دی څه ډول غبرګون ښيي.

کله چې انسان ته د له لاسه ورکولو تجربه ور پېښه شي، نو دی باید داسې ونه کړي چې خپل ځان بې برخې او ناکامه وګڼي، مرام له لاسه ورکړي او یا په ژړا او شکایت بوخت شي. د دې پر ځای انسان ته پکار ده چې د زړورتیا ښکارندويي وکړي. ماتې وزغمي او خپل ذهني اعتدال له لاسه ور نه کړي. دا فکر وکړي چې ورکوونکی هم خدای دی او اخیستونکی هم خدای دی. د همدې لپاره زه باید د خدای پر پرېکړه خوښ اوسم. د خدای پر پرېکړه خوښي هغه څه ده چې بیا ځلې به مې د هغه د رحمت او پاملرنې مستحق وګرځوي.

په همدې ډول کله چې انسان د لاسته راوړو یا ترلاسه کولو تجربه ويني، نو داسې باید ونه کړي چې د وياړ او لويي په نفسياتو کې اخته شي او خپل ځان لوړ وګڼي.

د دې پرعکس ورته بويه چې دا بریالیتوب يې عاجزي لا ور زياته کړي. د خدای او انسانيت اړوند کومې فريضې چې ور له غاړې دي، د هغو په ترسره کولو کې له لا زياتې پاملرنې څخه کار واخلي.

په دې دنيا کې له لاسه ورکول هم ازموينه ده او لاسته راوړل هم يو ازمايښت دی. نه له لاسه ورکوونکي ماتې خوړلې او نه لاسته راوړونکی بريالی شوی. د ماتې او بريا اصلي معيار دا دی چې له هغو تجربو وروسته د انسان دريځ څه وو.

بريالی هغه دی چې د ترلاسي او ورکاوي له تجربو وروسته پر اعتدال ولاړ وي. له دواړو څخه يوه تجربه يې هم د اعتدال له لارې څخه وا نه ړوي. دا خلک د خدای په نزد بريالي خلک دي. هېڅ شی يې هم د بريا په لار کې خنډ نه شي رامنځته کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلاصون

د انسان تر ټولو لویه مسئله څه ده؟ د انسان تر ټولو لویه مسئله دا ده چې له مرګ وروسته راتلونکي ژوند کې یې خلاصون او نجات په برخه شي او د خدای په ابدي رحمتونو کې ځای ومومي.

هر انسان چې دې دنیا کې سترګې غړولې، هغه به له مرګ وروسته یوې بلې دنیا ته ور داخلېږي. په دې دنیا کې انسان ته د ژوند موده د ازمايښت لپاره ورکول شوې وه. په راتلونکي ژوند کې به چې څه ترلاسه کوي هغه به د ده د عمل د عوض په توګه ورکول کېږي. د دې معنا دا ده چې له مرګ مخکې ژوند کې خو هر انسان ته په لازمي ډول د اړتیا وړ ټول شیان ورکول شوي دي، که یې مستحق وي او که یې نه وي. خو له مرګ وروسته ژوند کې به دا لزوم پای ته ورسېږي. هغه مهال به د شیانو د ترلاسي معیار استحقاق وي نه امتحان.

د دې معنا دا ده چې په راتلونکي ژوند کې چې کوم خلک مستحق شي، هغوی ته به خو به هر ډول نعمتونه له زیاتونې سره ورکول شي. خو هغه خلک چې مستحق یې نه وي، هغو ته به هېڅ شی هم ور نه کړای شي. دوی به مجبور وي چې هلته د بشپړ بې برخیتوب ژوند تېر کړي.

همدا د انسان تر ټولو لویه مسئله ده او هغه خبره ده چې هر انسان باید تر بل هر څه زیاته پاملرنه ورته وکړي، هسې نه چې په راتلونکي ژوند کې مستحق ونه ګڼل شي او د خلاصون موندونکو له ډلې څخه نه وي. هر انسان چې خپل ځواک او پاملرنه تر ټولو زیاته په کوم کار کې ولګوي هغه دا ده چې په دې دنیا کې په داسې ډول ژوند تېر کړي چې په راتلونکي ژوند کې غیر مستحق ونه ګڼل شي، بلکې هلته یې نېکمرغي او خلاصون په برخه وي.

راتلونکی ژوند یوه ډېره بشپړه او تلپاتې نړۍ ده. هلته هر ډول خوندونه او خوښۍ را یو ځای کړای شوې دي. همدا هغه دنیا ده چې انسان یې هیله لري او همدا هغه دنیا ده چې انسان ورته خپلې ټولې مینې شاته پرېږدي. خو له نعمتونو څخه دې ډکې دنیا لپاره د عمل کولو ټاټوبی له مرګ مخکې دنیا ده نه له مرګ وروسته راتلونکی ژوند. د نن ورځې دنیا د عمل ځای دی او راتلونکی ژوند د خپل عمل د پایلو ترلاسه کوی ځای دی.

په آخرت کې به خلاصی یوازې د هماغو خلکو په برخه وي چې له آخرت مخکې یې خپل ځان د خلاصون مستحق زباد کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جهاد

د جهاد معنا هڅه کول او زيار ايستل دي. د دين په لاره کې رښتينې هڅه جهاد بلل کېږي. د انسان نفس يې د بديو په لور کاږي، هغه مهال له خپل نفس سره جنګ کول او له بديو ډډه کولو ته جهاد ويل کېږي. ملګري، انډيوالان او ټولنيز فشار يو داسې کار درباندې کول غواړي چې د حقيقت له مخې ناسم دی، هغه مهال د دې خلکو فشار نه منل او په خپله سمه رويه کلک پاتې کېدل جهاد دی.

خلکو ته ښې خبرې ښودل او له بدو يې راګرځول يو ستونزمن عمل دی. خو د ستونزو او ربړو ګالل او د بلنې رسالت ته دوام ورکول جهاد دی.

که له ګاونډيو يا خپلوانو څخه يوه ترخه خبره مو تر غوږو در ورسېږي، يا يو ډول ترخه تجربه در پېښه شي او له امله يې په انسان کې غوسه را وپارېږي، خو دی له غبرګون څخه ډډه وکړي او په يو جانبه ډول له خلکو سره د ورين تندي اړيکې وپالي، نو دا به يو جهاد وي.

د جهاد يو بل ډول هم شته چې بل نوم يې قتال دی. د الله د اوامرو په پيروي کې له دښمنانو سره جنګېدل. دا جهاد د ظلم په مقابل کې د ځان د ژغورتيا لپاره ترسره کېږي. د جهاد لغوي معنا جنګ نه ده. خو د خدای د اوامرو په پيروي کې د خپل ځان ژغورل هم يوه هڅه ده، له همدې امله جهاد ورته ويل کېږي.

د جنګ او جګړې جهاد يوه لنډمهالې او اتفاقي مسئله ده. که کوم وخت د ځان ساتنې اړتيا پېښه شي، نو هغه مهال به دا ډول جهاد ترسره کېږي. او که دا ډول سخته اړتيا پېښه نه شي، نو جګړه ييز جهاد به عملاً ولاړ وي.

پر يوې کړنې د جهاد نوم ايښودو له کبله هغه کړنه جهاد نه ګرځي. جهاد يوازې هغه عمل دی چې د اسلام له مخې جهاد وي. او اسلامي جهاد اصلاً د سوله ييز هاند او هڅې نوم دی. دا سوله ييزه هڅه او هاند کله نا کله په داخلي اعتبار غوښتل شوی وی او کله له بيروني اړخه غوښتل شوی وي، کله د احساساتو پر کچه دوام لري او کله نا کله د ظاهري غړو په کچه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعا

د دعا معنا ده، له خدای څخه غوښتنه کول. د دې معنا دا ده چې بنده د خپلو اړتیاوو لپاره یا د خپلې بندګۍ د اظهار لپاره خدای ته ور غږ کړي. دا غږ پخپله یو عبادت دی.

خدای یو ژوندی او مستقل وجود دی. هغه ویني او اوري او دا ځواک لري چې څه وغواړي ویې وکړي او په کوم لوري چې وغواړي په هماغه ډول پېښنو ته لوری وټاکي.

د خدای په اړه دا باور د انسان په زړه کې د دعا ولوله را پاوري. کله چې انسان د خدای له پېژندګلوۍ برخمن شي، نو په فطري ډول یې په زړه کې دا ولوله را پورته شي چې د خپلو اړتیاوو لپاره خدای ته ور غږ کړي. له هغه څخه د دنیا او آخرت نېکمرغۍ وغواړي او د چارو سمبالوونکی یې وګڼي.

دعا نه ټاکلی وخت لري او نه هم ځانګړې تګلاره او نه هم کومه بېله ژبه لري. انسان هره شېبه، په هر ډول او په هره ژبه له خدای څخه دعا غوښتلی شي. که دعا له رښتیني زړه را وتلې وي، نو خامخا به تر خدای رسېږي، خدای به یې سمدستي اوري او ورسره جوخت به د هغه د قبولیت پرېکړه وکړي.

ځینې دعاوې داسې دي چې له بېلا بېلو عبادتونو سره تکرارېږي. خو ډېری دعاوې تر کوم بل عمل پورې تړاو نه لري. د بېلګې په ډول انسان د شپې د خوب لپاره د خوب ځای ته ځي، نو پر ژبه یې د شپې اړوند ځینې دعاوې را شي. په همدې ډول چې کله سهار له خوبه را ویښ شي، نو د نوې ورځې د غوره پیل لپاره دعا وکړي. په همدې ډول کله چې له چا سره وویني، یا خوراک او څښاک کوي، یا پر سپرلۍ کښني یا په سفر کې وي، یا په خپلو معاشي بوختیاوو کې لګیا وي. یا په کوم بل داسې حالت کې وي چې د هغه اړوند دعاوې یې له خولې را وځي چې معنا یې دا وي چې خدایه ته په دې کار کې غوره پرېکړه را وکړه.

د دعا معنا له خدای څخه غوښتل دي. او له خدای څخه غوښتل هېڅ پای نه لري. دا غوښتنه په هر حال کې دوام لري. دعا له خپل رب سره د نه پای ته رسېدونکي قلبي اړیکې اظهار دی. د مؤمن د ژوند یوه شېبه هم له دعا څخه تشه نه شي پاتې کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعاوې

په اسلام کې چې کومې لارښوونې راغلې، له هغو څخه یوه هم دعا ده. د احادیثو په کتابونو کې په لوی شمېر دعاوې را نقل شوې دي. دا دعاوې راته ښیي چې په بېلا بېلو وختونو کې د یوه مؤمن پر ژبه باید څه ډول دعائیه کلمات او احساسات را څرګند شي.

د بېلګې په توګه، یو کس له بل کس سره مخ شي نو پکار ده چې دواړه یو بل ته ((السلام علیکم ورحمة الله)) ووایي. یانې دا چې پر تاسو دې د الله سلامتیا او رحمت وي. په همدې ډول مؤمن ته بویه چې کله ډوډۍ خوري نو د ((بسم الله الرحمن الرحیم)) په ویلو ډوډۍ وخوري او کله چې ډوډۍ پای ته ورسېږي نو ((الحمد الله)) او داسې نور کلمات په خپله ژبه ولولي. ګواکې د خپل خوراک او څښاک پیل د الله په نوم کوي او کله چې خپل خوراک او څښاک پای ته ورسوي، نو یو ځل بیا د الله شکر پر ځای کړي او د هغه د نعمتونو اعتراف وکړي.

هر کله چې د یوه مؤمن په زړه کې یو ناوړه فکر را شي، نو دی یې په مقابل کې د الله پناه غواړي او دا کلمه په خپله ژبه وایي: ((اللهم انی اعوذبک من الشیطن الرجیم)). کله چې له یوه کار سره مخ شي نو وایي چې: ((اللهم علیک توکلنا – یانې اې الله پر تا مو توکل کړی)). په همدې ډول کله چې د مال یوه برخه ور ورسېږي نو وایي: ((اللهم بارک لنا فی اموالنا – یانې اې الله زموږ په مالونو کې برکت واچوه)). کله چې یو مؤمن سفر کوي نو پر ژبه یې دا کلمات جاري وي: ((اللهم انت الصاحب فی السفر وانت الخلیفة فی الاهل – یانې اې الله ته په دې سفر کې زما ملګری یې او له ما وروسته همدا ته مې د کور ساتونکی یې)).

کله چې یوه پېښه رامنځته کېږي نو وایي: ((انا لله و انا الیه راجعون – یانې موږ د الله لپاره یو او هماغه الله ته مو ورګرځېدل دي)). په همدې ډول د هر پېچومي او هر پړاو لپاره اسلام دعاوې ښودلې دي. دا دعا هر وخت د مؤمن ایمان تازه کوي. په دې دنیا کې ورته هره تجربه یوه رباني تجربه ګرځوي. مؤمن په همدې ډول د ذکر او دعاوو تر سیوري لاندې ژوند تېروي، تر دې چې سترګې یې پټې شي او له خپل رب سره مخ شي.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**